د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت
د مقام د دفتر لوی رياست
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

# عرفان

ښوونیزه، ادبي، څېړنیزه او ټولنیزه مجله

سال یکصدو سوم، شماره مسلسل ۶۰۷، ماه شوال ۱۴۴۵ هـ ق مطابق ماه حمل ۱۴۰۳ هـ ش




بررسی عوامل ضعف روخوانی ...
په اسلام کې د واکمنۍ ...
د ژبو د ډلبندۍ ...
اوس نو ایله په طالبۍ ...

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education
General Directorate of the Head Office
Directorate of Publication and Information

# Erfan



## Educational, Cultural, Research & Social Magazine

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education
General Directorate of the Head Office
Directorate of Publication and Information
Mohammad Jan Khan Watt, Kabul, Afghanistan


بسم الله الرحمن الرحيم

کتنپلاوي:  الحاج مولوي شهاب الدين "ثاقب"
مولوي عزيز احمد "ريان"
قاري منصور أحمد"حمزة"
معراج "زماني"
محمد ابراهيم "ملهم"
محمد نسيم "عياذ"
عبدالصبور "غفراني"
غلام سعيد"نجمي"
محمد اکرم "وفادار"

مسئول مدير:  جاويد «بهرام خېل»
مهتمم:  عبدالواسع "سعادت"

انځورګر:  محمد اشرف "رسولي"
محمد ادريس "نوري"

ډيزاينر :  محمد قسيم "يعقوبي"
د اړيکي شمېره:  ۰۰۹۳۷۲۹۸۱۹۰۳۳
تيراژ:  ۲۰۰۰

برېښناليک:  Erfan.magazine1400@gmail.com

| د دې ګڼې مطالب | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| سرلیکنه | | ۱ |
| بررسی عوامل ضعف روخوانی ... | مؤلف مریم نیازی | ۲ |
| په اسلام کې د واکمنۍ بنسټونه | سرمؤلف دکتور عنایت الله عادل | ۱۰ |
| روش‌های آموزش مهارت‌های ... | سرمؤلف سامعه واعظ | ۱۶ |
| د شهید محصل او تاند لیکوال... | م. احساس | ۲۲ |
| ویژگی های کادرهای تخصصی و... | مؤلف عبدالرقیب "جهید " | ۲۵ |
| د ژبو د ډلبندۍ لارې چارې | لیکوال: شفیع الله صمیم | ۳٤ |
| د مجذوب په شاعرۍ کې... | جاوید آفتاب | ٤۲ |
| اوس نو ایله په طالبۍ پوه شوم! | مفتی وقایت الله وقار | ٥۱ |

د عرفان مجله د مطالبو په اېډېټ کې خپلواکه ده، راغلې لیکنې له عرفان سره پاتې کېږي.
دعرفان مجله د لیکوال د لیکنې ننګه نه کوي، هر لیکوال ته ښايي
چې د خپلې لیکنې ننګه په خپله وکړي.


د پوهنې وزارت
ښوونيزه، ادبي، څېړنيزه او ټولنيزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۰۱ هـ ل ۱۹۲۳م

سرلیکنه

# پسرلنی ورمه ویده زړونه راویښنوي

د الهي تقویم او زماني څرخ په تاوېدو دی او د ژمي د تورو شپو او تورو تیارو د ظلم او ستم ماڼۍ چې ټول ژوند یې برمته نیولی؛ د پسرلني عدالت محکمې ته راکاږي.
هوکې! د نوي کال په لومړۍ ورځ د عدل او انصاف محکمه جوړېږي، شپه او ورځ سره برابرېږي او ژوند د ژمي له وحشت او ناورین څخه ژغوري، ۱۴۰۲ ل کال د تاریخ پاڼو ته ځي، نوی ۱۴۰۳ کال د ورسپارل شویو دندو او مکلفتیتونو په لور د نوي ژوند او نوي خوند ننداره پیلوي، د لمر زرینې اوړدې وړانګې! کومې چې د طبیعت بیا را ژوندي کولو دنده په غاړه لري، په ځمکه کې د خښو شوو ونو او بوټو د زړو زړونه تخنوي او قوت ورکوي چې راویښ شي او د خپل خالق له راز او نیازه ډکه ننداره یو ځل بیا پیل کړي، هغو میلیونونو سالرونکو ته چې په ژمني خوب ویده دي د سحر زیرې ووایي او په ځمکه کې د فقر او غریبي د خپرېدو مخه ونیسي څو هغه الهي ایکو سیستم ته چې په ځمکه کې یې د عدل او انصاف لمن غوړلې زیان ونه رسیږي.
د کال نوې ورځ د اعتدال او برابرۍ ورځ ده، په یادو شپو او ورځو کې شپه او ورځ سره برابرېږي د کال نوې ورځ د نوي ژوند پیلامه ده، له دې ورځې وروسته د لمر وړانګې ورځ په ورځ تودیږي، ځمکه خپلې رنګینې جامې اغوندي او د لمر وړانګې په الهي حکمت سره د نباتاتو په را زرغونولو او سمسورولو د نورو میلیونونو ژویو لپاره د خوند خواږه برابروي او د خوښیو او خوشحالیو ډک دسترخوان غوړوي او په دې توګه د خپلې پاچاهي او سلطنت د ظاهرولو او له حکمته ډکه ننداره د زړونو د روښانولو او د سرکښانو د غرور د ماتولو لپاره نندارې ته وړاندې کوي، دغه له عبرت څخه ډکه ننداره د بصیرت څښتنانو لپاره له راز او نیازه هغه ډک ګنج دی چې ژورو ته یې رسېدل له انساني تفکر څخه لرې او ګران بریښي؛ خو هغه څه چې څرګند دي دا دي، چې د کال نوی فصل او نوی پیل موږ ته دا په ډاګه کوي چې ټول باید د نوي کال د هر کلي لپاره د همت متې راونغاړو او په خپل کار او زیار پیل وکړو، بزګران باید له خپلو کروندو څخه ساتنه وکړي او په خپل زیار او زحمت سره خپل ځان، کورنۍ او خپلو هیوادوالو ته د اړتیا وړ خوړو په برابرولو سره د خپل ګران هېواد په سمسورتیا او بسیاینه کې خپله ونډه تر سره او د الهي اجر مستوجب وګرځي، د اولاد نفقه فرض ده او د فرض اداکولو ثواب، کاسب دوست د خدای(جل جلاله) دی او څوک چې د خپل شغل او مسلک له لارې حلال رزق او روزي ګټي د خدای(جل جلاله) دوستان ګڼل کیږي.
څوک چې علم او زده کړه کوي، په دې لار کې یې لګېدلی وخت الله(جل جلاله) په عبادت کې شماري نو راځئ! چې د کار او زیار په دې موسم کې په پوره ځواک د خپل هیواد اقتصادی، ټولنیزو او فرهنګي ستونزو او نیمګړتیاوو د له منځه وړلو، د فقر او بدبختۍ د ټغر د ټولو لپاره متې را ونغاړو او د خپلو ماشومانو او د هېواد د نوي نسل په سالمې ښوونې او روزنې سره د خپل هېواد په آبادولو او سمسورتیا کې له هر وخت څخه زیاته او فعاله ونډه واخلو او په پوره زړورتیا او روغ فکر خپل هېواد له ناورین څخه وژغورو د کال نوی فصل او روان بهیر موږ ته په ګوته کوي چې «څوک چې خوب کوي، مېښې یې نر کټې زېږوي».

# بررسی عوامل ضعف روخوانی قرآن کریم شاگردان دوره متوسطه

قسمت دوم

مؤلف مریم نیازی

## یافته‌های تحقیق

در این بخش از تحقیق نتایج و یافته‌های جمع‌آوری شده به شکل خلاصه معرفی شده، برخی از عوامل ضعف روخوانی قرآن کریم عبارتند از:

• به نظر می‌رسد دلیل نارسایی خواندن قرآن، نداشتن شناخت دقیق شاگردان نسبت به حروف و حرکات و چگونگی تلفظ است. نتیجه مطالعات این تحقیق حاکی ازآن است که حتی آن دسته از شاگردانی که درخواندن قرآن دچار مشکل هستند، به راحتی می‌توانند حروف را با کلمات مختلف ادا کنند؛ اما همان عده درخواندن کلمات قرآنی (با حرکات ساده) با مشکل مواجه هستند.

• عامل دیگر ضعف روخوانی این که شاگردان به حرکات توجه ندارند و بدین جهت هنگام خواندن کلمات، آنها را نادرست تلفظ می‌کنند. به منظور رفع این مشکل لازم بود تا آیات قرآن‌کریم با حرکات رنگی و کاملاً درشت علامت گذاری شود تا مورد نظر و توجه شاگردان واقع شود. نتیجه‌ای که از مطالعات این تحقیق انجام شده به دست آمده، حاکی از آن است که حتی در صورت وجود شرایط فوق، مشکل همچنان وجود دارد.

• عامل دیگر ضعف روخوانی قرآن‌کریم شاگردان، خواندن کلماتی که باحرکات معمولی مانند: فتحه، کسره و ضمه نشانه گذاری شده اند، مشکلی ندارد و اشکال درخواندن کلماتی است که دارای حروف ناخوانا یا علائم تنوین و تشدید و... هستند. بدین ترتیب بعد از بررسی مشخص می‌گردد که ضعف توانایی خواندن عبارات قرآنی به طور اصلی معلول ضعف شناسایی حرکات و یا بی اطلاعاتی از قواعد حروف ناخوانا و تنوین و... است.

• یکـی از عوامـل دیگـر پافشـاری معلمـان بـر آمـوزش قواعـد اسـت. چنانکـه معمـولاً معلمـان قـرآن بـا روبـرو شـدن بـا شـاگردانی کـه نمی‌تواننـد قرآن‌کریـم را بخواننـد، برشناسـاندن قواعـد اصـرار می‌ورزنـد و در نهایـت هـدف آمـوزش نیـز بـه دسـت نمی‌آیـد. آمـوزش حـرکات و رنگین‌کـردن یـا درشـت و ریزکـردن آنهـا مشـکل را ریشـه کـن نخواهدکـرد. پـس حقیقتاً مشکل کجاست و چرا با این همه فنـون و روش‌هایی کـه بکار برده می‌شود، مسأله عـدم توانایـی قرائت قـرآن همچنان وجـود دارد. عمـوم اشـکلات روخوانـی شـاگردان بـه ضعـف مهـارت روخوانـی یـا بـه عـدم دقـت، شـتابزدگی، اضطـراب و عـدم اعتمـاد بـه نفـس مربـوط اسـت. معلـم بایـد بـا روش‌های گوناگـون متناسـب بـا هـر اشـکال آشـنا باشـد تـا بـه روش صحیـح اشـکال شـاگردان را برطـرف سـازد و مهـارت روخوانـی شـاگردان را افزایـش دهـد.

• شـاگردان در زمینـه روخوانـی صحیـح عبـارات و آیـات قرآنـی، چنـدان موفـق نبـوده انـد؛ ایـن ضعـف بـه ویـژه در برنامه‌هـای آموزشـی سـنتی قـرآن بسـیار برجسـته و مشـخص اسـت. یعنـی سـاختار تنظیـم محتـوای برنامـه درسـی بیشـتر از روش‌هـای سـنتی متأثـر اسـت و بـه بازنگـری نیـاز دارد.

• یکـی از عوامـل دیگـر ضعـف روخوانـی، تأثیـر لهجه‌هـای زبان‌هـای ملی(پشـتو- دری) بـر عملکـرد روخوانـی شـاگردان بـوده کـه در هنـگام روخوانـی قـرآن کریـم را بـه لهجه‌هـای زبان‌هـای خویـش تـلاوت می‌کننـد.

• عـدم اسـتفاده از نوارهـای صوتـی در هنـگام آمـوزش قـرآن کریـم از طـرف معلمـان.

• حجـم مطالبـی کـه در برنامه‌های درسـی قرآن‌کریـم ارائـه شـده انـد، زیـاد اسـت و بـا زمـان اختصـاص یافتـه بـرای آمـوزش تناسـب نـدارد.

• آمـوزش قرآن‌کریـم، یـک سـویه و معلم محـور اسـت و قـرآن آمـوزان اغلـب در ایـن شـرایط منفعـل عمـل می‌کننـد.

• آمـوزش قواعـد تجویـد بـه شـکل انتراعـی بـوده و تجربه‌هـا نشـان داده اسـت کـه آمـوزش قواعـد بـه ایـن شـیوه بـه علـت انتزاعـی بـودن مطالـب چنـدان تاثیـر مثبتـی در یادگیـری کامـل قواعـد نـدارد و تنهـا بـه حفـظ کـردن تعاریـف و قواعـد منجـر می‌شـود؛ در نتیجـه تنهـا مقـدار کمـی از قواعـد آموختـه می‌شـود. در حالیکـه اصـل آمـوزش و یادگیـری بـه صـورت عملـی و در حیـن مهـارت آمـوزی بـه فراگیـر انتقـال داده می‌شـود.

• یکـی از عوامـل دیگـر ضعـف روخوانـی قـرآن کریـم شـاگردان ایـن اسـت کـه میـان

روش‌های روخوانی متن‌های زبان‌های ملی(پشتو- دری) و روش‌های خواندن قرآن‌کریم دقت نشده و میان این دو تفکیک صورت نمی‌گیرد.

راهکارهای تقویت روخوانی قرآن‌کریم

تقویت روخوانی قرآن از اهمیت بالایی برخوردار است. شاگردان تأثیر زیادی را از خانواده و معلمان خود می‌گیرند. تأثیرگذاری این دو نهاد به قدری عمیق است که پایدارتر از آموزه‌های وجودی هر فرد دیگری در ذهن و ناخودآگاه کودك ثبت می‌شود. علاوه بر این، والدین می‌توانند تأثیر کلام و رفتار معلم را در روند آموزش کودك خود تثبیت یا آن را پاك کنند. از سوی دیگر آموزش قرآن به جهت ماهیت خاصی که دارد، با روح و جان متعلم آمیخته می‌شود. بنابراین قرار است به نوعی به شاگردان آموزش داده شود که قرآن را برای آنان محبوب‌تر سازد. در همین راستا، در ادامه به چند راهکار مناسب روخوانی قرآن‌کریم برای کودکان و شاگردان برای تقویت روان خوانی قرآن توجه می‌نماییم.

۱. عادت دادن کودکان به خواندن قرآن: یکی روش آموزش روخوانی قرآن این است که فرزند خود را به تلاوت روزانه قرآن عادت دهید. البته ممکن است که انجام این کار در ساعات اولیه صبح به دلیل خواب‌آلودگی کودکان امکان‌پذیر نباشد؛ اما می‌توانید هنگام اذان مغرب کودکتان را تشویق کنید تا به همراه شما وضو بگیرد، نماز بخواند و پس از ادای نماز، از روی کتاب درسی قرآن را تلاوت کنند. والدین نیز فرصتی را برای فرزندان خود فراهم کنند تا شاهد عبادت‌های شان باشند و سعی کنند الگوی مناسبی برای کودکان باشند؛ زیرا همان طور که اشاره کردیم، کودکان بیشتر از کلام، از رفتار والدین و اطرافیان خود الگوبرداری می‌کنند.

۲. استفاده از نرم‌افزارهای هوشمند: یکی دیگر از راه‌های تقویت مهارت روخوانی قرآن کریم استفاده از نرم افزارها برای آموزش روخوانی قرآن‌کریم که به آموزش درس‌های قرآن اختصاص داده شده باشد، استفاده صورت گیرد. قلم قرآنی هوشمند نوعی خودآموز روخوانی و روان‌خوانی قرآن کریم است که با لمس کردن هر کلمه در متن می‌توانید قرائت صحیح آن را پخش کنید. از این ویژگی می‌توانید برای تصحیح مهارت قرائت خود یا فرزندتان استفاده کنید. بر این اساس به عنوان نوعی خلاقیت در آموزش قرآن‌کریم، با استفاده از این نرم‌افزار هوشمند می‌توانید مهارت روخوانی فرزندان‌تان را تقویت کنید.

۳. بیان معنی آیات برای کودك: بیان

معانی آیات برای کودک در خانه و مکتب موجب می‌شود تا او بتواند ارتباط روحی بهتری با آیات الهی برقرار کند.در واقع، یکی از دلایل بی‌میلی کودکان نسبت به تلاوت قرآن این است که زبان عربی و آیات قرآن را بیگانه تلقی می‌کنند در نتیجه نمی‌توانند با آیات قرآن‌کریم ارتباط برقرار کرده و از مفهوم و معانی زیبای آن برخوردار گردند. با این تفاسیر، وظیفه ما به عنوان معلم یا والدین کودک این است که با بیان معنی آیات، آنان را به خواندن قرآن‌کریم و پیروی از دستورات آن تشویق کنیم.

۴. اجتناب از خواندن آیات توسط معلمین و تکرار آن توسط شاگردان: در هنگام تمرین کردن روخوانی با شاگردان، از خواندن آیات و درخواست از کودک برای تکرار آن اجتناب کنید. به عبارت دیگر، شیوه کار باید به گونه‌ای باشد که شاگرد خودش به دنبال کشف شکل صحیح قرائت آیات باشد و معلم تنها به عنوان راهنما توجه کودک را به تلفظ درست حرکات حروف معطوف نماید تا خود فرد با تلاش و کوشش به شکل صحیح تلفظ آیات دست یابد. تمرین کردن به این شیوه در ابتدا ممکن است دشوار باشد و حتی شاید با مقاومت کودک روبه‌رو شود؛ اما پس از گذشت مدتی کوتاه پیشرفت‌های چشمگیری در مهارت روخوانی شاگرد به دست می‌آید. به طوری که پس از مدتی کودک قادر خواهد بود تا به تنهایی و با سهولت آیات جدید قرآنی را قرائت کند.

۵. تمرین و تکرار روخوانی قرآن‌کریم: با وجود انجام راه‌کارهای فوق، هنوز هم ممکن است برخی اشکالات شاگردان در روخوانی آیات رفع نشده باشد. باید توجه داشته باشید که برطرف کردن برخی اشکالات به تمرین بیشتر با مرور زمان احتیاج دارد. از این رو بهتر است با تمرین، تکرار و صبر سعی کنید تا اشکالات کودک را رفع کنید. همچنین می‌توانید نواری قرآنی تهیه کرده و برای گوش دادن به قرائت صحیح سوره‌ها آن را به طور مداوم در خانه و یا صنف درسی پخش کنید. آموزش تصویری قرآن نیز برای تمرین و تکرار و گوش کردن به تلفظ درست آیات کمک‌کننده هستند.

۶. انجام فعالیت‌های خارج از صنف: خارج از صنف نیز می‌توانید با انجام برخی فعالیت‌های فرهنگی و هنری به تقویت مهارت روخوانی شاگردان خود کمک کنید. برای مثال، انجام فعالیت‌هایی مانند تولید آثار هنری در رابطه با آیات مانند نقاشی، خطاطی و

غیره یا شرکت در مسابقه‌های قرآنی، تحقیق در رابطه با شأن نزول آیات و سایر فعالیت‌های مشابه می‌توانند تأثیر معجزه آسایی بر مهارت قرائت آیات قرآن‌کریم و همچنین رفتار و گفتار کودکان‌مان داشته باشند.

۷. ضرورت نظارت بر اجرای کامل برنامه‌ی آموزش قرآن: نظارت بر فرآیند اجرا، شناسایی مشکلات و رفع آن‌ها از لوازم ضروری توفیق در هر برنامهٔ درسی است. مضمون آموزش قرآن که از صنف اول تا صنف نهم تحت عنوان آموزش قرآن‌کریم و تجوید، تدریس می‌گردد. هر چند همه‌ی معلمان، مدیران و مسوولین به درس و فعالیت‌های قرآن‌کریم علاقه‌مند اند، اما تا زمانی که معلمان این مضمون مسلکی نباشند و همه‌ی افراد و مسئولان، نقش خود را با آگاهی و توانایی لازم در مورد آن ایفا نکنند، وجود نظارت خاص بر فرآیند اجرا و پشتیبانی از برنامهٔ آموزش قرآن‌کریم که یک امر کاملاً ضروری است، نباشد، وضعیت بهبود نخواهد یافت. در امر نظارت بر فرایند آموزش قرآن، مسئولیت اصلی بر عهده‌ی مسوولین که معلمان مسلکی را استخدام و معلمانی که در امر یاددهی سهم فعال و مسوولیت پذیر باشند، می‌باشد.

۸. ضرورت استفاده از رسانه‌ها و مواد آموزشی: استفاده از مواد مناسب کمک آموزشی در تسریع و کیفیت بخشی آموزش نقش بسیاری دارد. در آموزش قرآن در دوره‌ی ابتدایی و متوسطه که بیشتر دارای اهداف مهارتی است، بهره‌گیری از ابزار بسیار مهم است. استفاده از ابزار و وسایل آموزشی، علاوه بر ایجاد جذابیت، یادگیری و تحقیق اهداف را تسریع می‌بخشد. در نظام آموزشی فعلی ما معمولاً رسانه‌ی آموزشی قرآن منحصر به کتاب درسی و کتاب راهنمای معلم تهیه شده در ریاست نصاب تعلیمی بوده اما نیاز است تا نوارهای آموزشی، نرم افزارها و کتاب‌های کمک آموزشی نیز در خدمت معلمان و شاگردان قرار گیرند تا در جهت رسیدن به اهداف آموزشی زمینه ساز باشند.

۹. قلم هوشمند قرآنی: قلم‌های قرآنی یکی از نوین‌ترین ابزارهای یادگیری قرآن هستند که روان خوانی، روخوانی، ترتیل و فصیح خوانی قرآن را برای علاقه‌مندان به یادگیری قرآن تسهیل می‌نماید. لذا ابزاری کارآمد برای تقویت روان خوانی قرآن به شمار می‌آید. فایل‌های قرآنی ذخیره و کدگذاری شده در قلم هوشمند قرآنی، متناسب با محتوای آیات قرآنی است. بدین‌گونه که با قرار گرفتن نوک قلم

روی آیه هم‌زمان صوت مربوط به آن آیه پخش می‌شود.

۱۰. توجه به حرکات در آیات: برخی از شاگردان هنگام روخوانی قران به حرکات حروف آن توجه نمی‌کنند. به همین دلیل در هنگام تلاوت برخی کلمات را نادرست تلفظ می‌کنند. برای رفع این مشکل می‌توانید آیات قرآن کریم را با حرکات رنگی و کاملا درشت علامت گذاری کنید و از آموزش تصویری قرآن بهره مند شوید. به این ترتیب کودک به حرکات روی حروف توجه و دقت بیشتری نشان می‌دهد. در نتیجه، دانش آموز با کمی تلاش بیشتر می‌تواند آیات را به روش مناسب‌تری تلفظ کند.

۱۱. استفاده از تشویق‌های کلامی و غیرکلامی: یکی دیگر از راه‌های تقویت اعتماد به نفس کودک برای تلاش در مسیر بهبود مهارت‌های روخوانی قرآن‌کریم استفاده از تشویق‌های کلامی و غیرکلامی است.

هنگامی که می‌بینید کودک سعی در فراگیری قرآن دارد، شایسته است که او را تشویق کرده و از تلاش‌های وی قدردانی کنید.

به این ترتیب فرزندتان انگیزه مضاعفی برای تلاش بیش از پیش در این مسیر به دست خواهد آورد.

## نتیجه گیری

یکی از مسائل اساسی زنده‌گی انسان، مسئله تعلیم و تربیت است. تعلیم و تربیت نیز دارای دامنه گسترده‌ای است؛ اما مهم‌ترین انواع تربیت، تربیت دینی است. انجام این رسالت در کشور ما به عنوان یک جامعه اسلامی، تا حدود زیادی به وزارت معارف واگذار شده است. در درون این وزارت، کتاب‌های درسی به عنوان یک ساز و کار مؤثر مطرح هستند. یکی از کتب مهم نصاب وزارت معارف، کتاب آموزش قرآن و تجوید است که در میان مضامین دیگر در هر دورۀ آموزشی اهدافی خاصی آموزشی و دینی را دنبال می‌کند، این کتاب از دورۀ اول تا متوسطه (از صنف اول تا صنف نهم) تدریس می‌گردد. خواندن، عمل و انس به قرآن‌کریم، موجب سعادت هر انسانِ کمال طلبی است که در راه انسانیت قدم برمی‌دارد و این کلام الهی، جلوه‌ای از قدرت، علم و حکمت پروردگار و آیات نورانی آن، نشان‌گر عظمت خداوند متعال است، در عین حال، بهترین راه انس با خداوند عالمیان نیز محسوب می‌شود.در عصری که دشمنان اسلام از هر سو و با تمام امکانات به نابودی اسلام، کمر بسته اند، انس با قرآن برای تمام مسلمانان، ضرورتی انکار ناپذیر است؛ چرا که

در صورت مأنوس نشدن با کلام وحی و فاصله گرفتن از این سرچشمه‌ی نور، در معرض خطرات متعددی قرار خواهند گرفت، که از مهم‌ترینِ آن خطرات، ضلالت، گمراهی و تسلط بیگانه‌گان است.

مقاله حاضر با هدف بررسی عوامل ضعف روخوانی قرآن‌کریم شاگردان دوره متوسطه به بررسی وضعیت روخوانی شاگردان و مطالعات کتابخانه‌ی اقدام کرد و سعی شد تا عوامل ضعف آنرا شناسایی کرده و راهکارهای مناسب جهت بهبود وضعیت پیشنهاد شوند.

بر اساس مطالعات این تحقیق به نظر می‌رسد شاگردان فارغ از صنف نهم با وجود که از صنف اول تا نهم قرآن را آموزش می‌بینند اما اکثر آنها، قرآن را بر اساس قواعد تجوید در حد ضعیف تلاوت می کنند از جمله علت‌های آن استفاده از روش‌های سنتی، عدم استفاده از تکنالوژی آموزشی و انس کمتر شاگردان به آموزش قرآن، تأکید معلمان به آموزش نظری قواعد نسبت به تطبیقی و... می باشد. جهت بهبود وضعیت کنونی راهکارهای که برای معلمان و مسوولین در این مقاله ارایه گردید، عملی گردد.

با توجه به مطالعات این مقاله پیشنهادات زیر برای معلمان و مسوولین ارائه می گردد:

- به ریاست نصاب تعلیمی پیشنهاد می‌گردد تا ضمن آماده کردن کتاب‌های درسی و راهنمای معلم باید برای طراحی و تدوین نوارهای صوتی و تصویری اقدامات لازم را داشته باشند.
- به شاگردان پیشنهاد می گردد تا با تلاوت روزانه قرآن‌کریم، برای دیگران و به ویژه خانواده خود، الگوی خوبی باشید.
- اگر معلم قرآن هستید، بیشترین وقت صنف ما را به تمرین مهارت خواندن قرآن‌کریم آن هم توسط همه شاگردان اختصاص دهید.
- شاگردان را تشویق کنید تا با زمان سنج سرعت تلاوت خود را در صنف و خانه افزایش دهند.

بین آنان رقابت ایجاد کنید تا یک آیه را با یک نفس بخوانند، با صدای بلند بخوانند و یا زیباتر از دیگری قرائت کنند.

- از هر موقعیت مناسب ضمن اشاره به معارف و آموزه‌های اخلاقی، به آیات قرآن استناد کنید.
- احساس شاگردان را در باره تلاوت روزانه قرآن بشنوید و آنها را تشویق نمایید و از شاگردان فعال تجلیل کنید.

• با پرسش از معنای کلماتی که در زبان‌های ملی(دری و پشتو) و قرآن مشترک هستند، شاگردان را به فهم لغات و ترجمه آن و نیز یافتن هم خانواده لغات «عادت» دهید.

• داستان‌هایی درباره اهمیت و فواید انس دائمی با قرآن‌کریم برای شاگردان بیان کنید.

• آداب ظاهری و باطنی تلاوت قرآن را به تدریج به شاگردان آموزش دهید.

• فضائل تلاوت برخی از سوره‌ها و آیات را به زبان ساده برای آنان شرح دهید.

• عواقب و نتایج سبک شمردن قرآن را گوشزد کنید وظایف هر یک از مسلمانان در باره انتظارات قرآن درباره خودش را برای شاگردان به زبان ساده بیان کنید.

• با توجه به تفاوت‌های فردی و استعداد علاقه و انگیزه هریک از شاگردان تکالیف خاص تحت عنوان فعالیت‌های فردی یا گروهی به آنان بدهیم. مانند حفظ، قرائت، ثبت نام و شرکت در رقابت‌های تلاوت قرآن و همچنین این موضوع را با خانواده‌ی آنان در میان بگذارید.

• با توجه به جایگاه قرآن‌کریم در سایر دروس مانند علوم تجربی، ریاضی، جغرافی، تاریخ و ... به شاگردان به زبان ساده بیان کنید و با توجه به علاقه و توانایی خود در موقعیّت‌های مناسب بین موضوعات مختلف درسی و آیات قرآن‌کریم ارتباط برقرار کنید.

۱- قرآن‌کریم، (سوره‌های یونس، بقره، رحمن).
۲- صابونی، شیخ محمد علی، ترجمهٔ محمد میریس غیاثی(۱۳۸۹)، آشنایی با قرآن، انتشارات رسالت، کابل.
۳- انوشه پور، ابوالفضل، سرشور خراسانی، غلام عباس؛ سیف، سیدمهدی (۱۳۸۵)، روش آموزش قرآن کریم دورهٔ ابتدایی. شرکت چاپ و نشر کتاب‌های درسی ایران .
۴- کریم زادگان مقدم، داوود و همکاران(۱۳۹۶)، ارزیابی اثربخشی آموزش الکترونیکی حفظ و رواخوانی قرآن‌کریم بر دانش آموزان.
۵- ضرغامی، محمد حسین و همکاران (۱۳۹۴)، بررسی اثر بخشی آموزش‌های مدارس قرآن‌کریم بر مهارت روخوانی قرآن دانش آموزان مقطع ابتداییه.
۶. صامت، الهام و همکاران(۱۳۹۳)، پژوهش در باب توانایی خواندن قرآن‌کریم در افراد کم توان ذهنی.
۷. کریمی، فرهاد (۱۳۸۴)، نگاهی به فعالیت‌های دارای اولویت پژوهش‌گاه آموزش و پرورش در سال ۱۳۸۴، پژوهش‌نامه آموزشی.

# په اسلام کې د واکمنۍ بنسټونه

**دوهمه برخه**

**سرمؤلف دکتور عنایت الله عادل**

اجتماعي او انساني علوم د ژوند د عملي ډګر د واقعیتونو ثمره او نتیجه ده، نو کله چې ژوند د بدلون، ودې او پرمختګ په حال کې وي، ډېر داسې شیان او پدیدې رامنځته کوي چې عقل دې ته اړ باسي او دا ورنه غواړي چې تفاعل او تعامل ورسره وکړي، او په اړه یې رایې او نظریات قایم کړي، د دې حقیقت ژوندی مثال په تېرو دیرشو کلونو کې د اسلامي اقتصاد د علومو په برخه کې موندلی شو، د سودي او اسلامي بانکونو زیاتوالی او له مالي او تجارتي فعالیتونو سره د خلکو تر پخوا څو چنده زیاته علاقه او تړاو د دې سبب شوی چې په اسلامي او غیر اسلامي پوهنتونونو کې په لسګونو د اقتصاد ځانګې پرانیستل شي، ورسره له همدې لامله په اقتصادي او مالي چارو کې د فتوی ورکولو لسګونه مراکز او اداري رامنځته شوي دي، تر څنګ یې په سلګونو کنفرانسونه او سیمینارونه هم جوړ شوي څو د شریعت په چوکاټ کې د نننه اقتصادي فقه لا ښه څرګنده او تقویه کړي، خو وینو چې په سیاسي ډګر کې ورته څه نه دي شوي، ځکه متأسفانه د اسلامي نړۍ زیاتره حکومتونه او سیاسي خوځښتونه د جمود په رنځ اخته او له هر ډول تحرک لویدلي دي.

سیاسي فقه یا شرعي سیاست د تاریخ په اوږدو کې زمونږ د فقهي ماڼۍ تر ټولو وړه، کمزورې او تیته خونه پاتې شوې ده، او علت یې یوازې په ژوندنیو چارو کې جمود نه دی، بلکې یو دلیل دا هم دی چې د دې برخې (شرعي سیاست) بدلون، تحول او تطویر تل پر عامه فضاء د زمانې د واکمنې اوضاع له غوښتنو سره په ټکر کې واقع شوی، علمي او اجتهادي ډګرونه هم همدې ته ورته دي، خو د عباداتو اړوند فقه بیا تر ډېره آزاده او لاس خلاصې ده.

پر دې دا هم ور زیاته کړه چې اسلامي تاریخ په خپلو زیاترو مراحلو کې د جګړو، شخړو، فتنو، ټکرونو او مقابلو ډګر و، چې اسباب یې هم مختلف او متعدد دي، او دا بیا د دې لامل شوی چې د فقهاوو په زړونو کې په فتنو

د اختـه کېـدو (واقـع کېـدو) او پـه ټولنـه کـې د ویش او اختـلاف وېـره راپورتـه کـړي، نـو هڅـه يې کړې چې د يووالي خبرې او نظريات عام کـړي او د اختـلاف مخـه ونيسـي، پـه همـدې تـرځ او همـدې فضـاء کـې (متغلـب: پـه زور واکمنـی تـه رسـېدلي واکمـن) تـه قانونيـت او مشروعيـت ورکـړل شـوی، خـو دا پـه حقيقـت کـې د اسلامي سـياسي نظـام د نظـري بنسـټ د تطوير پـه بيـه تمـام شـوی او پـه همـدې سره زمـوږ د لـوړ او روښـانه تمـدن د تاريخ پـه لومړيـو کـې د سـياسي ناکاميـو او کمزوريـو د نقـد او څېړنـې مخـه ډب شـوې ده.

اسلامي سـياسي فقـه د زيـات شـمېر عواملـو او اعتباراتـو لـه مخـې دايمـي تجديـد تـه اړتيـا لري؛ دا ډول يـو شـمېر عوامـل او اعتبـارات عبـارت دي له :

أ ـ دا چـې سـپېڅلی شريعـت تلپاتـې دی، دا د دې غوښـتنه کـوي چـې د عامـو انسـاني چـارو پـه برخـه کـې څـه داسـې تشـې وي چـې د هـرې زمانـې خلـک مکلـف دي د خپلـې زمانـې د حالاتـو او غوښـتنو مطابـق يې د پرليسـې اجتهـادي هڅـو او کړنـو پـه مټ ډکـې کـړي، لـه همـدې کبلـه په قرآنکريـم او سـپېڅلي نبـوي سـنت کـې داسـې نصـوص نـه شـي مونـدلی چـې صراحتـا د شـورى پـر الزاميـت او يـا عـدم الزاميـت، د مخالـف ګونـد د فعاليتونـو پـر تنظيـم، د سـياسي ګوندونـو د فعاليـت پـر جـواز او يـا عـدم جـواز دلالـت وکـړي؛ همـدا راز داسـې صريـح نصـوص هـم نـه شـته چـې د امـام او اهـل الحـل والعقـد مواصفـات او د واک د لېـږد لاره او طريقـه پـه مفصلـه توګـه بيـان کـړي... مطلـب دا چـې پـه دې برخـه کـې راغلـي نصـوص پـه خپـل دلالـت کـې صريـح نـه دي، دا چـارې او امـور پـه داسـې مفصلـه او محـدده (ټاکلـې، مشـخصه) توګـه نـه دي بيـان شـوي چـې د هـرې زمانـې او هـر قـوم او ولـس لـه حالاتـو او غوښـتنو سره برابـر وي، بلکـې پـه دې برخـه کـې د هـرې زمانـې پـر علـماوو اجتهـاد واجـب دی څـو د وخـت او شرايطـو غوښـتنې پرې ځـواب شي، ځکـه کـه اجتهاد ونـه شي او د مکان او زمـان غوښـتنو تـه ځـواب ويونکـي نظريـات را مخـې تـه نـه شي، ډېر مصالـح ضايـع کېـږي، د سـترو او زيـات شـمېر فتنـو، اختلافاتـو او شخـړو د رامنځتـه کېـدو لـه پـاره لاره هوارېـږي، او دا خـو منـل شـوې قاعـده ده چـې هغـه څـه واجـب دي چـې د واجـب اداء ور پـورې تړلـې وي(ما لا يتـم الواجـب الا بـه فهـو واجـب).

ب ـ انسـاني اعـمال؛ کړنـې او چـارې پـه دوه ډولـه دي: عبـادات او عادات.

عبـادات: هغـه اعـمال چـې انسـان يـې اللـه تعالـی تـه د تقرب او خپلـې غـاړې د خلاصولـو لـه پـاره تـرسره کـوي، او دا ډول اعـمال يـا عبـادات توقيفـي دي چـې دليـل تـه اړتيـا لـري، کـه دليـل يـې نـه وي، بيـا نـو عبـادت نـه شـو ورتـه ويلـی، ځکـه يـوازې هغـه عمـل او عبـادت اللـه تعالـی

تـه د تقـرب سـبب کېـدی شي چـې اللـه تعالـی خـوښ کـړی وي.

عـادات: دا هغـه ډول اعـمال او کړنـې دي چـې انسـان يـې د خپلـو اړتيـاوو، غوښـتنو، مصالحـو او رغباتـو د پـوره کولـو او د خپـل موجوديـت د اسـتمرار لـه پـاره تـرسره کـوي، لکـه خـوراک، څښـاک، پيـر وپلـور، کـر کيلـه، صنعـت او سفر... پـه دې ډول اعمالـو کـې اصـل اباحـت دی، مسـلمان د خپلـې اړتيـا مطابـق هـر هغـه عمـل او کړنـه کولـی شي چـې منـع او تحريـم يـې پـه نـص (آيـت يـا حديـث) نـه وي ثابـت شـوی. پـام مـو وي چـې د حـلال شي تحريـم او د حـرام خيـز تحليـل (حـلال تـه حـرام او حـرام تـه حـلال ويـل) دواړه د اللـه تعالـی لـه امـر او حکمـه يـو برابـر سرغړونـه او عصيـان دی، اللـه تعالـی فرمايـلي: ﴿أَمْ لَهُـمْ شُرَكَاءُ شَرَعُـوا لَهُـمْ مِنَ الدِّيـنِ مَـا لَـمْ يَـأْذَنْ بِـهِ اللَّـهُ...﴾ (الشـورى: ۲۱) ترجمه:[آيـا داسـې شريـکان يـې دي چـې د دين هغـه طريقـه يـې ورتـه ټاکلـې چـې اللـه يـې اذن او اجازه نـه ده ورکـړې]. بـل ځـای اللـه سبحانه وتعالـی فرمايـي: ﴿قُـلْ أَرَأَيْتُـمْ مَـا أَنْـزَلَ اللَّـهُ لَكُـمْ مِـنْ رِزْقٍ فَجَعَلْتُـمْ مِنْـهُ حَرَامًـا وَحَـلَالًا﴾. (يونـس:۵۹) ترجمه:[وواېـه: آيـا پوهېـږئ اللـه چـې لـه رزق روزۍ څـه تاسـو تـه نـازل کـړي، هغـه چـې تاسـو ځينـې تـرې حـرام کـړي او ځينې حـلال ګرځـولي].

شـيخ الاسـلام ابـن تيميـه رحمـه اللـه وايـي: «د ځمکـې د اوسـېدونکو اصلـي ګمراهـي لـه دې دوو شـيانو منځتـه راغلې:پـه ديـن کـې داسـې څـه جـوړول چـې اللـه تعالـی يـې حکـم نـه وي کـړی او بـل د هغـه څـه تحريـم چـې اللـه تعالـی نـه وي حـرام کـړي». د تفصيـل لـه پـاره تجديـد الفقـه السـياسي في المجتمع الاسـلامي:۲۶، ۲۷ مخونه وګـوره.

د دې ټولـو معنـی دا کېـږي چـې پـه عاداتـو او دې برخـه پـورې تړليـو چـارو کـې؛ نظـري وي کـه تنظيمـي، د حرکـت او خوځښـت آزادي اصل دی، پـه دې کـې شـک نـه شـته چـې د واکمنـۍ اړونـده مسـائل د عاداتـو لـه ډلـې شـمېرل کېږي، نـه د عباداتـو، خـو د دې مطلـب دا نـه دی چـې ځينـې عـادات او مباحـات اللـه تعالـی تـه د تقرب وسـيله نـه شي کېـدی، بلکـې ډېـر ځلـه همـدا عـادات او مباحـات د عبادت وسـيله ګرځـي او پـه همـدې سره اللـه تعالـی تـه د تقرب سـبب کېږي، لکـه تهجـد تـه د راپاڅېـدو پـه نيت وختـي ويـده کېـدل.

ج ـ پـه لومړيـو پېړيـو کـې د اسـلامي سـياسي نظـام د اړونـد فقهـي تصـور او تيـوري بنسـټ د فتوحاتـو د داسـې يـوه دولـت پـر شـتون او موجوديـت اينسـودل شـوی چـې ثابتـې يـې پولـې نـه درلـودې، بلکـې د توسـعې پـه حالـت کـې و، ښـکاره ده چـې دا ډول حالـت د داسـې يـوه سـياسي نظـام غوښـتنه کـوي چـې د نـن ورځـې لـه مطلـوب سـياسي نظـام سره پـوره توپيـر لـري،

ځکـه نـن هـر دولـت ثابتـې پولـې او سرحدونـه لـري.

په امپراطوري ډوله دولت کې لـوی دولت پـه ورو دولتونـو د ويش يـا تجزئـې فکـر او تصـور د نظام په هـر بند کـې محسوس وي، لـه همدې املـه تمرکـز پـر دې وي چې واک او اختيـار بايـد تـر خليفـه يـا رئيس او امير پـورې محـدود او منحـصر وي، خـو نـن د ثابتـو حـدودو درلوونکـو دولتونـو پـه دې زمانـه کـې غـوره او منلی تصـور دا بلـل کېـږي چې واک او اختيـار ويشـلی وي، او دا د شرعـي مقاصـدو او اهدافـو د لانبـه تطبيـق او تحقق پـه موخـه د سياسي فقهـې د تجديد او نقد بـل اغيزمـن عامـل دی.

د ـ سياسـت يـو ممکـن فـن دی، د عامـو چـارو د اداري فـن دی، د مصالحـو او مفاسـدو؛ ګټـو او زيانونـو تـر منـځ د موازنـې فـن دی، او پـه نړيوالـه کچـه، نـه د ولس او هېواد پـه سطحه، د دوستانو د زياتولو او دښمنانو د کمولو فن دی.
لـه همدې ځايـه ده چې نـن ورځ پـه نړۍ کـې د شفافيت، شورى، فساد خلاف مبارزې، د واک د ناسمي کاروني خلاف اقداماتو او له مخالفينو سره د تعامل پـه برخـه کـې ډېرې زياتـې، پخـې او اغيزمنې تجربې او مهارتونه شـته...
اسلامي امت تـه ښايي پـه سياسي ډګـر کـې د وارد شـويو صريحـو نصوصـو او د کُلي اصولـو پـه چوکاټ کـې د ننـه د اقتبـاس او اجتهـاد لـه لارې د خپـل سـياسي ژونـد او حالـت د تطويـر، ودې او مثبت بدلـون لـه پـاره لـه دې تجاربو او مهارتونو ګټـه واخلـي؛ د بېلګـې پـه توګـه زمـوږ د پخوانيـو فقهـاوو پخوانـۍ پوهـه او تجربـه پـر هغـو صفاتـو او ورتيـاوو متمرکـزه وه چـې څـوک د خلافت او يا ستر امامت وړ بلـل کېږي، خـو وروسته څرګنده شـوه چـې د دې تمرکـز ګټـه محـدوده وه، ځکـه د خليفـه يـا اميـر لـه پـاره ټـاکل شـوي زياتـر صفـات نِسـبي او تـر يـوه حـده غامـض وو، پـه داسـې حـال کـې چـې ننـۍ سياسي تجربـه او پوهـه د شخص پـر ځای پـر سياسي نظام ډېـر تمرکز کوي او غواړي دغـه نظام چې حکومت او ولـس دواړه يـې تـر واک او اداره لانـدې دي، لا غـوره او بهتر کـړي، نـو دا مضبوط، محکم، غـوره او پرمختللـی سـياسي نظـام دی چـې د واکمنـو او ولـس مسـئوليتونه، دنـدې او حقـوق ټاکـي او همـدا نظـام دی چـې نـاکام، نـاوړه او د خپلـو دنـدو لـه اداء کولـو عاجـز حکومت تـه پرته لـه هـر ډول خونـړۍ مقابلـې او جګـړې د پـای ټکـی ږدي او رخصتـوي يـې.

د دې فقـرې پـه پـای کـې پـر دې ټينګار او تأکيد کـوم چـې زمـوږ د سياسي نظـام د تطور لـه پـاره اجتهـاد بايـد مؤسسـاتي او ډلـه ييـز وي، ځکـه ډلـه ييـز اجتهـاد د فردي اجتهـاد پـه تناسب ډېر اغيزمـن، خلکـو تـه زيـات د منلـو وړ او تـر ډېره له اشـتباهاتو پاک وي.

**٦ ـ د بديلونو ستونزه:**

د عـربي پـسرلي پـه مهـال چـې کـوم بدلونونـه

او انقلابونه رامنځته شول، ډېرى خلکو په سیاسي ډګر کې یوه ستره ستونزه محسوسه کړه، څکه په ټولنه کې د جوړېدونکي سیاسي نظام په هکله سخت او زیات اختلاف موجود و، او څرنګه چې زموږ ټولنې مسلماني ټولنې دي د خلافت او اسلامي امارت د قیام او تأسیس طرحه او مفکوره د زیات شمېر ځوانانو له پاره ډېره جذابه او زړه راښکونکي ده، ثابته خبره ده چې د راشده خلفاوو رضي الله عنهم دوره سره د دې چې پېړۍ ورباندې تېرې شوې دي د خلکو له پاره نمونه او د پیروۍ وړ دوره ده.

خو له دې هم انکار نه شي کېدلی چې زمانه بدله شوې او د دولتونو حجم د پخوا په نسبت ډېر لوی شوی دی، که یو دولت له یوه شرکت سره پرتله کړو، نو وبه ګورو چې د یوه داسې شرکت چې څلور ملیونه کارکوونکي لري لکه د تویوتا شرکت، د اداري غوښتنې او اړتیاوې د هغه ورکشاپ د اداري له غوښتنو او اړتیاوو سره زیات توپیر لري چې څلور پنځه تنه په کې کار کوي. پر دې سربېره دا هم باید په پام کې ونیسو چې زموږ د ولسونو فرهنګ او ثقافت په بشپړه توګه سوچه اسلامي فرهنګ او ثقافت نه دی، څینې د اسلامي فکر او اسلامي تاریخ پیروان، پلویان او ورسره تړل شوي دي، خو شته داسې کسان چې د حکومت او حکومتدارۍ په برخه کې له غربي تجربې اغیزمن شوي، دموکراسي، لیبرالیزم او پانګوالي ښه ورته ښکاري، یو شمېر نور بیا د کین اړخو له افکارو او تجربو اغیزمن دي، او څینې بیا داسې دي چې نه پوهیږي څه وکړي، نه له اسلام خبر دي او نه له دې نورو فکري اتجاهاتو او خوځښتونو!

که رښتیا ووایو دموکراسي د ځمکې پر مخ د ډېرو ولسونو له پاره د ثبات او ټیکاو د تحقق په لار کې د پام وړ بریالیتوبونه لري، خو دا ده چې دموکراتیک نظامونه خلکو ته د تشریع او حلال د تحریم او حرام د تحلیل حق ورکوي، په داسې حال کې چې زموږ ایمان او عقیده دا ده چې واکمني د شریعت حق دی، هېڅ پارلمان او حکومت دا حق او اجازه نه لري داسې قانون جوړ او تدوین کړي چې د مسلمانانو له معتقداتو او ثابتو دیني اصولو سره مخالف او په ټکر کې وي، پر دې سربېره دموکراسي نور هم بلها عیبونه او نواقص لري؛ د بېلګې په توګه په دموکراسۍ کې د رایو صندوقونو ته د تحکیم حق او صلاحیت ورکړل شوی، په داسې حال کې چې انساني تجربه وایي: د رئیس او پارلمان په ټاکنه کې یو عالم، کار پوه او پوخ سیاستوال له أمي، نالوستي، جاهل او په هېڅ ناخبر انسان سره یو برابر او مساوي شمېرل عدل نه دی، همدا راز دموکراسي د سیاسي ګوندونو له شتون پرته نېمګړې وي او یا یې بالکل د قیام تصور

نه شي کېدی، سیاسي ګوندونه به رامنځته کېږي څو خلکو ته سیاسي پوهاوی ورکړي، په خپلو حقوقو او مسئولیتونو یې خبر کړي، خو په تجربه ثابته ده چې په ګوندونو د یوې ټولنې ویشل د همغې ټولنې د نړېدو او د ژوند په ډېرو برخو کې یې د دښمنیو او مخالفتونو د رامنځته کېدو سبب شوی دی...

نو ویلی شو چې موږ واقعاً د داسې یوه سیاسي نظام د غوره کولو په برخه کې له حقیقي ستونزې سره مخ یو، چې د آزادی، کرامت، عدالت، امن، سوکالی، پرمختګ، ودې، ثبات، شفافیت او سپېڅلتیا په برخو کې د معاصر یا ننني مسلمان غوښتنو ته د اسلام او عقیدې په رڼا کې پوره او قانع کوونکی ځواب وویلی شي، په یاد مو وي چې د ژوند په ټولو برخو کې د انسان ټولې لاسته راوړنې او کړنې ناقصې، په ذاتي توګه معیوبې وي، چې دایمي تطویر او اصلاح ته اړتیا لري.

دا آسانه ده چې دغه سیاسي نظام او یا هغه سیاسي نظام ته د انتقاد ګوته ونیسو، خو دا ډېره ګرانه ده داسې یو نظام رامنځته کړو چې له هغو عیبو او کمزوریو پاک وي چې موږ یې په نورو نظامونو کې وینو، بناءً اړ یو په پیل کې معیوب او ناقص نظام ومنو، بیا یې د اصلاح او اکمال په لار کې خپل توان په کار واچوو.

په هر حال نړیوالې تجربې ښیي چې د نړی ټول هېوادونه او ولسونه د واکمنۍ او قدرت د ویش په سر له سختو او خونړیو جګړو او ترخو مقابلو تېر شوي دي، او په دې برخه کې ناکامۍ له کامیابیو زیاتې دي، او دا هم ممکنه نه ده موږ له دې حکم مستثنی وو، مهمه دا ده چې دا مشخصه کړو موږ له سیاسي نظام د څه غوښتونکي یوو او هغه څه دي چې وېره ورنه لرو او ځانونه ورنه ساتو، دا مو چې په ګوته کړه بیا په همدې چوکاټ او د همدې تشخیص په رڼا کې د سیاسي او اجتماعي نظام د اصلاح له پاره اړین ګامونه اخلو.

د سیاسي او اجتماعي نظامونو تطویر او اصلاح اوږده پروسه ده، دا د لسیزو سفر دی، ناکامي او نامرادي هم په کې شته، خو یو شی چې دا اوږد او له کړاوونو ډک کار راته آسانولی شي دا دی چې د واک او واکمنۍ اړونده چارو مدیریت او اصلاح یوه نړیواله مسأله ده، چې په اړه یې زیات شمېر تجربې، مهارتونه، کامیابۍ او ناکامۍ زموږ مخې ته پرتې دي، چې باید د داسې یوه سیاسي نظام د غوره کولو په موخه استفاده ورنه وکړو چې زموږ له تصور او نړۍ لید سره بشپړه همغږي ولري او د معاصر مسلمان هیلې، مادي او روحي اړتیاوې ټولې پوره کړی شي، خو ښایي له یاده ونه باسو چې دا آسانه کار نه دی، مشکلاتو او ستونزو ته یې باید ویښ او تیار وو.

# روش‌های آموزش مهارت‌های یادگیری ومطالعه

سر مؤلف سامعه واعظ

بـه همیـن ترتیـب معلـم و شـاگردان بـه نوبـت بـه آمـوزش می‌پردازنـد و بـا تکیـه برنـکات بـالا مـتن مـورد نظـر را می‌خواننـد و در بـارهٔ آن بحـث می‌کننـد. ابتـدا معلـم خـود راهبردهـا را بـه کار می‌گیـرد؛ بعـد بـه تدریـج بیشـتر مسـئولیت را بـه شـاگردان وامی‌گـذارد. معلـم در ایـن بـاره توضیحـات زیـر را در اختیـار یادگیرنـده‌گان قـرار می‌دهـد:

وقتـی کـه مـن نقش معلـم را ایفا می‌کنـم خواهید دیـد کـه چگونـه بـه دقـت مطالـب را می‌خوانـم و ایـن کار را از طریـق بیـان سـئوال‌هایی کـه در ضمـن خوانـدن طـرح کـرده ام، خلاصـه کـردن نـکات مهـم مطلـب و پیش‌بینـی اینکـه نویسـنده در بخـش بعـدی چـی مطالبـی را بحـث خواهـد کـرد نشـان می‌دهیـم. مـن هم‌چنیـن بـه شـما خواهـم گفـت کـه بـه نـکات مبهمـی برخـورده ام یا نـه و اگـر برخـورده‌ام چگونـه آن‌هـا را بـه صورت قابـل فهـم در آورده‌ام. وقتـی کـه شـما نقش معلم را ایفـا می‌کنیـد، ابتـدا بایـد سـئوال‌هایی را کـه در ضمـن خوانـدن طـرح می‌کنیـد بـه مـا بگوییـد؛ مـا جـواب سـئوال‌ها را خواهیـم داد و شـما بایـد بـه مـا بگوییـد کـه جواب‌های‌مـان درسـت انـد یـا نـه. شـما بایـد مهم‌تریـن نـکات مطالبـی را کـه می‌خوانیـد بـرای مـا توضیـح دهیـد؛ هم‌چنیـن لازم اسـت بـرای مـا نـکات مبهمـی را کـه در ضمـن خوانـدن مطلـب بـه آن برخورده‌ایـد توضیـح دهیـد. در ضمـن خوانـدن مطلـب، چندیـن بـار از شـما خواسـته می‌شـود تـا پیش‌بینـی کنیـد چـی

چیزهایی در دنبال مطلب خواهند آمد. زمانی که هر یک از شما معلم هستید بقیهٔ ما به سئوال‌های‌تان جواب خواهیم داد و نسبت به خلاصه‌ای که ارائه می‌دهید نظرمان را خواهیم گفت. این‌ها فعالیت‌های هستند که امیدوارم شما آن‌ها را یاد بگیرید و هم در وقت دیگری که قصد خواندن و فهمیدن مطلبی را دارید آن‌ها را مورد استفاده قرار دهید.

روش آموزش دوجانبه در اصل برای بهبود خواندن و فهمیدن شاگردانی که از این لحاظ مشکل داشتند ابداع شد؛اما بعداً کاربردهای بسیار وسیع‌تری پیدا کرد. برک (۲۰۰۰) از پالینسکار(۱۹۹۲) نقل می‌کند که روش آموزش دوجانبه برای موضوع‌های درسی دیگر، از جمله مطالعات اجتماعی و علوم و نیز برای استفادهٔ شاگردان در همهٔ سطوح تحصیلی قابل استفاه است.

پالینسکار و براون(١٩٨٤) در تحقیقی که برای نشان‌دادن تأثیر آموزش مهارت‌های یادگیری یا راهبردهای شناختی و فراشناختی در بهبود کیفیت خواندن و فهمیدن شاگردان دورهٔ اول تحصیلات متوسط انجام دادند تعدادی شاگردان دارای هوش بهر پایین‌تر از متوسط (حدود۹۰) و نمره‌های آزمون خواندن و فهمیدن بسیار پایین(حدود ۷ درصد هنجار ملی) را مورد آزمایش قرار دادند. این شاگردان فقط می‌توانستند که کلمات را روخوانی کنند؛ اما قادر به درک مطالب که می‌خواندند نبودند؛ پس از آموزش مهارت‌های فراشناختی از طریق روش آموزش دوجانبه به این شاگردان، هم سطح یادگیری و هم میزان انتقال یادگیری در آن‌ها افزایش یافت. برای نمونه، پاسخ‌های درست یکی از شاگردان به سئوال‌های آزمون خواندن و فهمیدن که در آغاز و پیش از آموزش راهبردهای یادگیری حدود ۱۵٪بود، پس از آموزش به ۸۰٪افزایش یافت؛ همچنین معلوم گشت که مهارت‌های آموخته شده به وسیلهٔ این شاگرد و سایر شاگردان مورد آزمایش به انجام کارهای معمولی در صنف درسی انتقال یافت؛ یعنی شاگردان مهارت‌های یادگیری آموخته‌شده در جریان آموزش را به سایر فعالیت‌های تحصیلی خود انتقال دادند.

علاوه بر تحقیق بالا، تحقیقات دیگری نیز وجود دارند که نشان می‌دهند روش آموزش دوجانبه هم با شاگردان ابتدایی و متوسط، و یا هم شاگردان عادی و استثنایی، و نیز با درس خواندن و فهمیدن و بعضی دروس دیگر موفقیت آمیز بوده است و موجب افزایش مهارت‌های یادگیری و انتقال یادگیری در شاگردان شده است (آرندز، ۱۹۹۸) متولی (۱۳۷٦)، آوانسیان (۱۳۷۷)، و ابراهیمی قوام آبادی (۱۳۷۷) نشان داده اند که آشنا ساختن شاگردان یا راهبر د یادگیری مطرح شده در روش آموزش دو جانبه موجب بهبود خواندن و درک مطلب در آنان می‌شود.

لازم به ذکر است که روش آموزش دوجانبه مستقیم از اندیشه‌های و بگوتسکی مشتق شده است طبق نظریهٔ و بگوتسکی کودکانی که به مرحله‌ای از رشد نرسیده اند که بتوانند در پیش خود موضوعی را بیاموزند می‌توانند به کمک

معلم یا کودکان بالغتر از خود در یادگیری آن موضوع توفیق حاصل کنند.

**۱- روش مطالعۀ مشارکتی**

از دیر باز روش باهم مطالعه‌کردن یکی از روش‌های شناخته شده و مؤثر یادگیری در میان شاگردان و محصلان بوده است. در روش مطالع مشارکتی یادگیرنده‌گان به صورت دو نفری باهم کار می‌کنند و به نوبت خلاصه مطالبی را که می‌خوانند برای هم می‌گویند( دانسرو،۱۹۸۵).

ابتدا یکی از دو نفر یادگیرنده نقش توضیح دهنده را به عهده می‌گیرد و نفر دوم وظیفه‌اش گوش دادن است؛ و در نوبت بعد نفر دوم توضیح می‌دهد و نفر اول گوش می‌کند.

مراحل روش مطالعۀ مشارکتی به شرح زیر اند:

۱. به صورت تصادفی، مثلاً به وسیلۀ بالا انداختن یک سکه، تصمیم بگیرید که ابتدا چه کسی توضیح دهنده و چه کسی گوش دهنده باشد، بعد شروع به مطالعه کنید.

۲. پس از اینکه مطالعۀ قسمتی از متن (حدود ۵۰۰ تا ٦۰۰ کلمه) را به پایان رساندید، خواندن را متوقف کنید.

۳. توضیح‌دهنده خلاصۀ متنی را که خوانده است با صدای بلند برای دوستش (گوش دهنده) توضیح می‌دهد، و این کار را بدون نگاه‌کردن به متن انجام می‌دهد. دراین خلاصه باید تمامی نکات و مفاهیم مهم و اساسی گنجانیده شوند.

٤. پس از آنکه توضیح دهنده کار خلاصه کردن را به پایان رسانید، گوش‌دهنده با نگاه‌کردن به متن اقدامات زیر را انجام می‌دهد:

الف- نکات مهمی را که در خلاصۀ ارائه شده جا افتاده اند بیان می‌کند و اشکالات و کج‌فهمی‌ها را برطرف می‌نماید.

ب- به کمک ربط‌دادن مطالب جدید با مطالبی که قبلاً یاد گرفته است، به یادآوری ودرک مطالب کمک می‌کند؛ همچنین در صورت لزوم از شکل، طرح و رسم نیز می‌تواند سود ببرد.

۵.توضیح‌دهنده می‌تواند به گوش‌دهنده در تصحیح و یادآوری خلاصۀ مطلب کمک کند.

٦. پس از آنکه خلاصۀ اولین بخش کامل شد، نقش خود را عوض کنید و این بار نفر دوم به خلاصه‌کردن متن بپردازد، و مراحل فوق را تکرار کنید. با این تغییر نقش، به مطالعه ادامه بدهید تا اینکه همۀ متن خوانده و فهمیده شود.

تحقیقاتی که در بارۀ اثر بخشی روش مطالعۀ مشارکتی انجام گرفته ( از جمله مک دو نالد و همکاران، ۱۹۸۵، به نقل اسلاوین، ۱۹۹۱) نشان داده اند. شاگردان و محصلان که به این طریق مطالعه می‌کنند. از کسانی که مطالب را برای خودشان خلاصه می‌کنند یا صرف به مطالعۀ مطالب می‌پردازند بیشتر می‌آموزند و آموخته‌ها را برای مدت طولانی‌تری در یادنگه می‌دارند. روش مطالعۀ مشارکتی برای هر دو نفر شرکت کننده مؤثر است؛ اما جالب این‌جاست که همواره سهم توضیح‌دهنده از یادگیری بیشتر از سهم گوش‌دهنده است.

**۲- روش یادگیری مشارکتی**

علاوه بر روش مطالعهٔ مشارکتی، روش مهم دیگری به نام یادگیری مشارکتی یادگیری باهم وجود دارد؛ چنانکه دیدیم، مطالعهٔ مشارکتی عمدتاً برای خواندن و فهمیدن متن‌های مختلف مفید است؛ اما یادگیری مشارکتی برای انجام‌دادن انواع فعالیت‌ها و تکالیف تحصیلی، از یادگیری درس‌های مختلف گرفته تا انجام پروژه‌های تحقیقی، مورد استفاده قرار می‌گیرد. از جمله مدافعان این روش جانسون(۱۹۸۷)و اسلاوین(۱۹۹۰) هستند. این روش مخالف روش رقابت فردی است و در آن یادگیرنده‌گان در گروه‌های کوچک باهم و به کمک هم به یادگیری می‌پردازند؛ بنابراین گفتهٔ جانسون و جانسون(۱۹۸۷)، در روش یادگیری مشارکتی شاگردان و محصلان «یا باهم شنا می‌کنند یا باهم غرق می‌شوند» (به نقل اُرمرود، ۱۹۹۵، ص ۴۵۴). ویژگی‌های روش یادگیری مشارکتی به قرار زیرند:

- **تشکیل گروه‌های کوچک نامتجانس**

یادگیری مشارکتی باید دارای هدف‌های روشن و قابل دسترس باشد و همهٔ اعضای گروه بدانند که باید برای رسیدن به آن‌ها بکوشند. از جمله هدف‌های یادگیری مشارکتی «می‌توان از گروه خواست تا سه دلیل علمی برای ذخیره‌کردن جنگل‌های بارانی استوایی پیدا کنند، یک معادلهٔ ریاضی دشوار را حل کنند.

- **وابسته‌بودن اعضای گروه به هم‌دیگر**

جانسون وجانسون (۱۹۸۷) و اسلاوین (۱۹۹۰) می‌گویند که وقتی موفقیت شاگردان به کمک و مشارکت سایر اعضای گروه وابسته است، بیشتر به صورت مشارکتی فعالیت می‌کنند. برای این منظور، می‌توان مواد آموزشی را میان اعضای گروه تقسیم کرد و از هر یک آنان خواست تا مطالب سهم خود را بیاموزد و آن‌را به دیگران آموزش دهد.

- **معلم به عنوان هدایت‌کننده و منبع اطلاعات**

نقش معلم در روش یادگیری مشارکتی باید عمدتاً به صورت هدایت‌کننده باشد؛ هم‌چنین زمانی که گروه نیاز به اطلاعاتی دارد که نمی‌تواند آن‌را به دست آورد، معلم می‌تواند آن اطلاعات را در اختیار گروه قرار دهد.

- **مسئولیت فردی**

برای جلوگیری از وضعیتی که در آن بعضی اعضای گروه بیشترین مقدار کار را انجام می‌دهند و بعضی‌ها از زیر بار شانه خالی می‌کنند، معلم باید مواظب باشد که همهٔ اعضای گروه مسئولیت انجام بخشی از کار را بپذیرند. برای این منظور معلم می‌تواند از تک تک اعضا بخواهد تا به سئوال‌های شفاهی یا کتبی او که در بارهٔ فعالیت‌های گروهی طرح شده اند پاسخ دهند.

- **پاداش‌دادن به توفیق گروهی**

پس از آنکه گروه به هدفش دست یافت و به موفقیت رسید، همهٔ اعضای گروه باید به پاس این موفقیت پاداش دریافت کنند؛ به عنوان مثال: وقتی که در امتحان مربوط به کار گروهی همهٔ اعضا موفق می‌شوند، تک تک آنان مستحق دریافت پاداش خواهند بود.

• **ارزشیابی از خود**

پس از آنکه فعالیت‌های گروهی به پایان رسید و هدف‌های پیش‌بینی‌شده تحقق یافتند، گروه به تحلیل عملکرد خود می‌پردازد و نقاط قوت و ضعیف کار را مشخص می‌کند و به ارزیابی از فعالیت‌های انجام شده اقدام می‌نماید؛ در صورت لزوم این کار به کمک معلم صورت می‌پذیرد.

• **تغییر مدت کار**

مدت فعالیت کار گروهی باید متنوع باشد. بعضی گروه‌ها برای انجام کارهای مختصر و مشخص تشکیل می‌شوند و کارشان را در زمان محدودی به ثمر می‌رسانند. بعضی گروه‌ها برای انجام کارهای مهم‌تری تشکیل می‌شوند و لذا مدت بیشتری به فعالیت می‌پردازند. این گروه‌ها منابع یادگیری را باهم شریک می‌سازند، وظایف را میان خود تقسیم می‌کنند، یادداشت‌های خود را در اختیار هم می‌گذارند، و در همه چیز از همدیگر حمایت می‌کنند و به همدیگر یاری می‌کنند.

روش یادگیری مشارکتی هم پشتوانه‌های محکم نظری دارد و هم از حمایت‌های دقیق تجربی برخوردار است. از لحاظ نظری، این روش هم مورد حمایت رفتارگرایان است و هم دیگر صاحب‌نظران یادگیری. از دیدگاه رفتارگرایان تقویت گروه برای کسب موفقیت از موارد عمدۀ استفاده از روش تقویت در آموزش و یادگیری است. از لحاظ نظریۀ شناختی - اجتماعی بندورا، وقتی شرایطی فراهم می‌آید که شاگردان درست انجام‌دادن کاری را در دوستان‌شان مشاهده می‌کنند خود نیز انجام آن کار را می‌آموزند و زمانی که موفقیت خودشان یا دوستان‌شان تقویت می‌شود اشتیاق بیشتری برای انجام آن کار پیدا می‌کنند. از دیدگاه ویگوتسکی نیز می‌توان استدلال کرد که شاگردانی که به تنهایی از عهدۀ انجام کاری بر نمی‌آیند وقتی که از کمک معلم و دوستان بهره‌مند می‌گردند چگونه‌گی انجام آن کار را یاد می‌گیرند.

از لحاظ تجربی، اسلاوین(۱۹۹۱) گفته است که تحقیقات انجام شده در بارۀ روش یادگیری مشارکتی نشان داده‌اند که این روش در بالابردن سطح بیشرفت تعلیمی شاگردان در موضوعات مختلف و در سطوح مختلف تعلیمی مفید است؛ به شرط آنکه گروه‌ها بر پایۀ یادگیری متوسط اعضا تقویت شوند.

اسلاوین همچنین به شواهدی اشاره کرده است که نشان می‌دهند روش یادگیری مشارکتی روابط میان شاگردان نژادهای مختلف را در صنف‌های مختلف بهبود می‌بخشد. همچنین این روش موجب بالارفتن سطح عزت نفس و سایر ویژه‌گی‌های عاطفی مثبت در شاگردان می‌شود.

**۳- روش پرسیدن دو جانبه**

روش دیگری که به افزایش سطح فراشناخت و به بهبود روش مطالعه کمک می‌کند روش پرسیدن دوجانبه یا پرسیدن متقابل است.

۱. معلم به شاگران می‌گوید هدف درس این است که به آنان کمک شود تا مطالبی را که می‌خوانند بهتر درک کنند. آن‌گاه معلم

و شاگران به نوبت یک جمله را می‌خوانند؛ بعد به ترتیب از هم‌دیگر سئوال‌هایی در بارهٔ همان جمله می‌پرسد.

۲. همهٔ سئوال‌هایی که پرسیده می‌شوند باید به طور کامل جواب داده شوند؛ اما لازم نیست جواب سئوال‌های مربوط به اطلاعات واقعی بسط داده شوند؛ اگر شاگردان نتوانند سئوالی را جواب دهند معلم دلیل آن را جویا می‌شود.

۳. هنگام جواب‌دادن به سئوال‌ها، معلم و شاگردان پاسخ‌های خود را با مراجعه به اطلاعات درون متن مستدل می‌سازند.

٤. اگر شاگردان سئوال‌های سطح بالا بپرسند معلم می‌گوید «سئوال خوبی است. من باید پیش از جواب‌دادن به آن فکر کنم». اگر سئوال‌های شاگردان در سطح پایین هستند صرف به آن‌ها جواب می‌دهد. معلم با سئوال‌های سطح بالا، شاگردان را به این کار تشویق می‌کند.

معلم و شاگردان تا هر وقت که لازم باشد به همین سبک به خواندن و سئوال‌کردن و پاسخ‌دادن ادامه می‌دهند.

هرچند که این روش با جمله شروع می‌شود؛ اما می‌توان آن را برای خواندن چند پاراگراف و حتی چند صفحهٔ مطلب نیز مورد استفاده قرار داد.

روش پرسش دوجانبه وسیله‌ای است که به کمک آن طرح سئوال از جانب یادگیرنده‌گان افزایش می‌یابد. هدف عمدهٔ آن افزایش تعداد و تنوع پرسش‌هایی است که مطرح می‌کنند. بنا به گفتهٔ گوئتز، الکساندر و آش(۱۹۹۲)، «شاید جالب‌ترین جنبهٔ روش پرسیدن دوجانبه، این است که نقش معلم و شاگردان را تغییر می‌دهد و شاگردان به عنوان پرسش‌گر و معلم به عنوان پاسخ‌گو به سئوال در می‌آیند».

تحقیقات انجام‌شده در بارهٔ تأثیر طرح سئوال بر یادگیری (از جمله گوئتز، ۱۹۸٤؛ ویتروک ۱، ۱۹۸۳؛ به نقل گوئتز، الکساندر، و آش،۱۹۹۲) نشان داده اند فراگیران به همان اندازه که از پاسخ‌دادن به سئوال‌های دیگران می‌آموزند، می‌توانند از سئوال‌هایی که خود طرح می‌کنند یادبگیرند. گوئتز، الکساندر، و آش(۱۹۹۲) در بارهٔ تأثیر روش پرسش دوجانبه گفته اند،« این روش اگر هیچ تأثیر دیگری نداشته باشد، دست کم می‌تواند به پردازش متن کمک کند و شاگردان را بر انگیزاند تا به مواد چاپی دقت بیشتری نشان دهند».

## مأخذ

۱- سیف، علی اکبر. (۱۳۷۹). روانشناسی پرورشی، روانشناسی یادگیری و آموزش، تهران.

۲- سیف، داکتر علی اکبر.(۱۳۸٤).
اندازه‌گیری، سنجش و ارزشیابی آموزشی، تهران، نشر دوران.

۳- سیف، علی اکبر،روش های یادگیری و مطالعه.

٤-انترنت.

# د شهید محصل او تاند لیکوال بشیر ریان اووم تلین

لیکوال: م.احساس

اوه کاله وړاندې د پسرلي لومړنۍ ورځې وې، پر افغانستان د اشغال او د اشغالګرو د ملګرو د حاکمیت وریځې خپرې وې؛ چې رسنیو د خلکو پام د یوه داسې مظلوم تنکي او هغه نابغه ځوان محصل پر لور واړاوه چې د کندهار پوهنتون د دري ادبیاتو د څلورم ټولګي د وروستي سمستر له وروستۍ ازمویني او صحنې د پوهنتون له انګړ څخه د جنرال د پټ مخو ټوپکمارو له لوري ژوندی تري تم او اوږدې مودې وروسته یې د کندهار سپین بولدک ولسوالۍ په یوه ریګن ډاګ کې د شهید بشیر احمد ریان بې روحه جسد وموندل شو.

د لیکوال او ژورنالیست شهید ریان کورنۍ او ملګري وایي، چې بشیر احمد د کندهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د دري ادبیاتو د څلورم کال محصل او د خپل عمر په نسبت د زیاتو آثارو څښتن وو، چې په یو ویشت کلنۍ کې یې ۲۲ کتابونه له چاپه راوتي ول.

ځوانیمرګ بشیر ریان په همدې ورځ اووه کاله وړاندې د تېرې اداري د وحشي جنرال او ټوپکمار جنرال عبدالرازق د ملېشو له لوري له پوهنتون ورل شوی و او وروسته یې بې روحه جسد په داسې حال کې وموندل شو چې په بدن یې د شکنجو او تعذیب اثرات څرګند ول.

بشیر ریان یو بې پرې ژورنالیست او اسلامپال و، د چاپ او ناچاپ آثارو سربېره لسګونه مقالې او لنډې کیسې یې هم لیکلې او خپرې کړې وې.

د نوموړي د مفکرې او دورې ملګري زیاتوي،

چې شهید ریان کم عمر کې لوړ او نابغه استعداد لاره. د پښتو ادب کره کتوونکي په دې اند دي چې قلم یې لوړې او زړه راښکونکي لیکنې پنځولې.

د یادونې ده، چې د جمهوریت تېرې را پرځول شوې اداري د اشغالگرو په ملتیا د شهید ریان په څېر په سلگونو بې گناه محصلین، لیکوال، شاعران، خبریالان او استادان په شهادت ورسول او هر هغه چا به چې د اشغال او د دوی د تپل سوي رژیم د ظلمونو او وحشتونو په اړه غږ پورته کاوه؛ د تنکي او نابغه ریان په څېر به یې بې روحه جسد په خړ ډاگ کې موندل کېده.

**بشیر ریان څوک و؟!**

بشیر احمد د انجنیر عبدالله گل ریان زوی د غزني ولایت د قره باغ ولسوالي د نعیم کلا اوسېدونکی د ۱۳۷۲ لمریز کال دحوت په ۲ نیټه دساړه ژمي په یوه واورینه ورځ دي لالهانده نړۍ ته سترگې پرانیستي وې.

ځوانیمرگ بشیر ریان په یوه علمي کورنۍ کې رالوی شو. پلار یې انجنیر عبدالله گل ریان په هېواد او بهر رسنیو کې زیاتې لیکنې خپرې کړې، همدارنگه د ۵۰ چاپ او ناچاپ اثارو لیکوال او ژباړن و.

**بشیراحمد د شپږو وروڼو تر ټولو کشرى هغه و.**

ډېر ماشوم و چې له کورنۍ سره کندهار ولایت ته لاړ، لا خو په ښه او بد نه و پوه شوی چې تر کابله ورسېد. د هیواد په زړه کې اوسېده، تر هغه چې نابلده الوتکو دتورو لوخړو سره دسرو وینو سیند وبهاوه او دډېرو نورو په څېر یې ببرته خپل ولایت ته په تگ مجبور کړ. په ۱۳۸۱ هـ ل کال لومړی ټولگی ته ولوید او په ۱۳۸۲ هـ ل کې د پاکستان کراچۍ ښار ته له کورنۍ سره لاړ. په کراچۍ کې د ښوونځي څلورم ټولگی کې شامل شو.

همدلته له کتاب او قلم سره اشنا شو او په دولس کلنۍ کې یې د "تلویزون او پایلې یې" په نوم کتاب له اردو ژبې څخه وژباړه. په همدې کال یې بل کتاب "د یوه لیک ځواب" په نوم ترجمه کړ.

په ۱۳۸٤ هـ ل د پاکستان کوټې ښار ته راغلل او په شپږم ټولگی کې یې د امین عالي لیسي په نوم یوه لیسه کې داخله واخیسته او یوولسم او دولسم ټولگي یې په حبیب الرحمن عالي لیسې کې ولوستل او

لـه همـدې لیسـې څخـه پـه ۱۳۹۰هــ ل کال فـارغ شـو.

د کانکـور ازموینـه کـې د کندهـار پوهنتـون د ښـووني او روزني پوهنځـی تـه بریـالی؛ خـو د لـوړو زده کـړو نیمګـړی ارمـان یـې د خونـړي انقـلاب لپـاره د وروسـتي ټولګـي، وروسـتي سمسـتر د وروسـتۍ ازموینـې پـه درشـل کـې د خپـل سـوچه اسـلامي او مـلي نابغـه فکـر لـه املـه نیمګـړی پاتـه شـو.

پـه لومړیـو کـې یـې شـعر وایـه او لیکـه خـو وروسـته یـې پـه ځـان کـې دشـعري اسـتعداد نـه لیدلـو لـه املـه ورسره مخـه ښـه وکـړه اولنـډو کیسـو تـه یـې مخـه کـړه چـې یـو شـمیر یـې د هیـواد پـه بېلابېلـو مجلـو او وېـب پاڼـو کـې خپـرې شـوې هـم دي. پـه دې سربېـره پـه اردو او فـارسي ژبـو لاسـبرى او لـه عـربي او انګلیـسي ژبـو سره اشـنا و.

پـه داسي حـال کـې چـې عمـر یـې د دوه ویشـت کلنـۍ پـه درشـل ښـود نومـوړی د(۱۷) چـاپ شـویو او پنځـو (۵) ناچاپـه اثـارو ښتـن دی.

**چاپ شوي اثار یې:**

۱- زریني کربښې
۲- غوره شوي نبوي حدیثونه (ژباړه)
۳- غازي احمدشاه بابا
۴- دافغاني پاچاهانو لنډ ژوندلیک
۵- دتاریخ له څېرکو څخه اړین معلومات
٦- دجغرافیې له نړۍ معلومات
۷- دنړۍ حیرانوونکې پېښې او معلومات
۸- خلیفه هارون الرشید
۹- د نړۍ د هېوادونو پېژندنه
۱۰- سیرت النعمان
۱۱- فتوح الغیب
۱۲- د مستندو د عاوو ټولګه
۱۳- په اروپا کې اسلامي جګړې
۱٤- دمېرمنو فقهي مسئلې
۱۵- تسهیل الادب
۱٦- عربي محاورې، ګرامر او لغاتونه
۱۷- الغزالي

**ناچاپ اثار:**

۱- دجامعه حفصه پېغله (دلنډو کیسو ټولګه)
۲- د سـید جـمال الدیـن افغـاني انـد او ژونـد (ژبـاړه)
۳- تلویزون او پایلې یې
٤- دیوه لیک ځواب
۵- منصور حلاج (ژباړه)
٦- د قیامت نښې نښانې

# ویژگی های کادرهای تخصصی والگوهای توصیفی برنامه ریزی درسی

تحقیق ونگارش: مؤلف عبدالرقیب "جهید "

این یک حقیقت مسلم است که نظام اسلام - محور تمام دانش‌ها، مهارت‌ها، نگرش‌ها، قابلیت ها، حقایق، اصول، مفاهیم، قواعد، فرضیه‌ها، تعمیم‌ها، ارزش‌ها، قوانین، فعالیت‌های شناختی و عملی، پرسش‌های عمق دهنده وتفکر برانگیز، منهج‌ها، ثقافت‌ها، درس‌ها، میتودها، رهنمودها و راهکار هاست. دانشمندان، محققان، پژوهشگران، تیوری سنان هر فن و رشته وبه ویژه علمای تعلیم وتربیت در شرق و غرب جهان اعم از مسلم و غیرمسلم غواصانه از این بحرخروشان قطره ای برداشته وبعد ازسال ها تحقیق وآزمایش، نتایج آن را برای نسل های بشری عرضه کرده اند.

درخصوص نظام تعلیم وتربیت بدیهی است که طرح و دیزاین مدل کریکولم های کاربردی وطرح وتدوین نصاب های تعلیمی پاسخ ده درهسته ی نظام تعلیمی و تربیتی به مثابه شریان حیاتی والگوی سیستم اعصاب تعلیم وتربیت شمرده می‌شود، از همین منابع گسترده وغنی نظام تربیتی تشریح اسلام سرچشمه می گیرد وپیام های زیبا و حیانی و آموزه های روان بخش معارف اسلامی مبتنی برتفکرفراگیر، صفات و سلوک رفتاری، شهروندی وتمایلات عالی انسانی بی حد وحصر را برای بشریت به ارمغان آورده است. مبتنی برآن درارابطه به مطالب مورنظرمی

پردازیم.

**مفهوم نصاب یا برنامه آموزشی (curriculum)**

یعنی (راهی که باید طی شود ) پیمودن فاصله این راه ورسیدن به هدف، طاقت فرساوچالش آفرین بوده وبه مثابه یک مسابقه ورزشی درانتظاربرنده شدن هستیم که درنتیجه کی برنده می شود؟ «جان گودلد » نظریه پرداز تعلیم وتربیت می نویسد:" ازآنجایی که ما برهدف ها وغایات تمرکز کرده ایم، هزاران وسیله وابزاربرای اندازه گیری نتایج مسابقه فراهم آورده ایم درحالی که به ندرت وسیله ای را برای دقت درشرایط وطبیعت مسیر اسب و اسب سوار آماده کرده ایم." ازاین فرضیه ثابت شد که پیمایش دورانی این راه صعب العبور مستلزم ظرافت و فراست عالی می باشد.

بلی؛ افراد کارشناس ومغزهای متفکرمی توانند باطرح وتدوین برنامه های استاندارد ومعیاری درسی چرخه ی نظام آموزشی یک جامعه رابه حرکت درآورند. درفرایند طرح و تولید مواد آموزشی و محتوای درسی کسانی نقش اساسی دارند که ذهن سازمان یافته وتوانمندی علمی واکادمیک داشته و در امر تألیف محتوای درسی و غیر درسی از اکولوژی مغزی وتخصص مسلکی برخوردار باشد وبه تولیدات شان جهت آموزشی بدهند. دراین زمینه افراد نخبه،کارشناس، ماهر و اکولوژیست که برعلاوه تخصص موضوعی، تخصص طرح وسازماندهی برنامه آموزشی وتجربه تألیف کتب درسی راداشته باشد وبه شمول خبره بودن ازآخرین اطلاعات علمی روز،ازماهیت دانش سازمان یافته وعلم روان شناسی وجامعه شناسی وافزود برآن از(۳۸) طیف علوم و معارف اسلامی وفنون تکنیکی ومناهج فکری وسبک‌های تفکر (فطرت گرایی، تجربه گرایی) ویا رویکرد های «خرد گرایی، اراده گرایی » بهره مند باشد که نمادی از آنبه فشرده ارائه می شود:

**با نظر داشت نظریات متفاوت فلاسفه یونان چون:** افلاطون که سر شناس ترین شاگرد سقراط بود در مورد تفکر بر اساس رویکرد فطرت گرایی (وراثت ) معتقد بود ونظریه ارسطو بنیان گذارعلم منطق، مبتنی بر رویکرد حسی (تجربه گرایی) است که از طریق حواس، مشاعر و اندام ها در ذهن منعکس می شود و یا (خرد گرایی «قرن ۲۰») برمبنای تیوری دانشمند روانشناس آلمانی (ویلهلم مکسیمیلیان وونت ۱۸۳۲_۱۹۲۰ ) که بر رویکرد (اراده گرایی) معتقد بودو یکی از هدف‌های عمده وی کشف عناصر فکر و فرآیندهای اساسی حاکم بر تجربه هشیاری است که در نخستین آزمایشگاه روان شناسی مورد مطالعه و آزمایش قرار داد- دیدگاه ما را در این خصوص تبیین می کند.

**مکتب های فکری فلاسفه**

ویلهلم و ونت آلمانی ارسطو سقراط

افلاطون خرد گرایی ---- ویا -- « اراده گرایی»

تجربه گرایی فطرت گرایی

درطرح وسازمان دهی کلیه برنامه‌ها وبه ویژه برنامه‌های آموزشی ودرسی بایست ازدیدگاه

فکری و مبانی روان شناسی عمومی وطورخاص ازروان شناسی تربیتی استفاده جست، جهت روشن شدن موضوع ایجاب می کند تا تعریفی ازروان شناسی تربیتی داشته باشیم: روان شناسی تربیتی عبارت ازتطبیق اصول وقواعد روان شناسی درجریان تعلیم وتربیت به هدف آموزش بهتر فراگیران است. به عبارت دیگر: روان شناسی تربیتی مجموعه فعالیت هایی است که در محیط ومحلات آموزشی انجام می گردد.

نویسنده کتاب روان شناسی تربیتی (لیند - گرین) به این نظر است که، هدف از موضوع روان شناسی تربیتی فهمیدن درست تعلیم وتربیت می باشد.

این دانشمند موضوع روان شناسی تربیتی را درسه شاخص کتگوری نموده است:۱- شاگردان ۲-آموزش ۳- موقعیت آموزش یاآن عوامل وشرایطی که بریاد گیرنده درفرایند آموزش تأثیر گذار است.

(کومینس ) یک تن از روان شناسان می گوید: روان شناسی تربیتی درباره موضوعات آتی بحث می کند:۱- نشو ونموانکشاف انسان ۲- آموزش ویادگیری ۳- شخصیت ۴-ارزیابی وسنجش ۵- روش ها وتکنیک های روان شناسی تربیتی.

نتیجه این که ازدیدگاه علم عصب شناسی نیم کره راست ونیم کره چپ مغزدریاد گیری ویاد دهی وطراحی های مهم علمی واکادمیک نقش داشته ؛ نیم کره راست وچپ اطلاعات را رمز گردانی و سازماندهی می کنند.

ازنظر (سمپلز) نیمکره راست مغز جهت گیری می‌کند، موادی را تهیه کرده است که نه تنها کنش‌های نیم کره چپ رابهبود می‌بخشد،" بلکه همه ی قابلیت های سحرآمیزنیم کره راست را نیز با این کنش ها درگیر می‌کند." شناخت این که مغز معنی را حداقل به دوطریق، یعنی إعمال سازماندهی‌های تحلیلی وکل نگری بردانش می‌سازد، می‌تواند در ایجاد استراتیژی های جدید و سازماندهی بهتر در الگوپردازی برنامه درسی و آموزشی تسلسلی راهنما باشد. وبه گونه‌ی ترکیبی، کلی، ادراکی وتفسیری عمل متقابل دارد؛ (کل نگر) است.

**نیم کره چپ**: دریک سازماندهی زنجیره ای، اخباری، تحلیلی، تسلسلی، زمان سوگیر تخصص نسبی دارد و در یادگیری وحفظ اطلاعات کلامی قابل انطباق می باشد.مانند: خواندن، نوشتن، حساب کردن ...

مغز ریشه درژنتیک (وراثت) دارد وبراساس متون و مراجع مستند تشریعی و تکوینی دین مبین اسلام، تشکل فطری مغز هر انسان به شمول استخوان،عصب«رشته عصبی» و جلد «پوست» از پدر است - طوری که تشکل خون، رنگ،مو وگوشت ازمادراست. نطق کردن، دیدن، شنیدن وحس بویایی از قدرت‌الله متعال ویکی ازخزانه‌ی الله تعالی است وآن روح می باشد.( شمائل الأتقیاء صفحه ۲۳۷-۲۳۸) خلقت نفس قالبی: «خلق الله بنی آدم من ثلثة عشر أشیاء... »الله تعالی آدمی را ازسیزده چیز(جوهر) آفرید...

مراجع ومآخذ:{ اخبار واثمار- خوارق، مشارق انوار- مصابیح – شرح مشارق-ریاحین- دقائق-صحیحین- جامع الوصول صنعانی.} شناخت خودی و یاخود شناسی یکی ازعناصر واجزای مهم قابلیت اساسی مدیریت خودی است. طوری که در خبر آمده: «من عرف نفسه فقد عرف ربه»

ترجمه: کسی که خود را شناخت، محققاً پروردگار خود را شناخت.

**پی علم شمـــــع بایـد گداخت**
**که بی علم نتوان خدا را شناخت**

# منظور ازاکولوژی که فوقاً یادشد، میزان قدرت ذهنی وتست هوش است که به (آی کیو) یا تشخیص درجه ذکاوت درانطباق با فورمول سن اصلی وسن عقلی( ذهنی) افرادسنجش می گردد که از(۲۵) درجه که هوش یک کودک است شروع وتا (۱۸۰) درجه که هوش یک نابغه است، منتهی می شود. مستوای هوشمندی یک کارآگاه خبره، محقق، برنامه ریز درسی، کتاب نویس،متخصص وسایکولوژیست باید در معیار میانی (۱۴۰-۱۱۰) باشد. تنها داشتن دیپلوم ها واسناد و مدارک عالی تحصیلی رشته های مختلف به سطح دوکتورا، ماستری ولیسانس و... کافی ومجری کار نیست؛ بلکه مغز متفکر داشته و برشش مشخصه متصنف باشد.

۱- تخصص درموضوع.
۲- سابقه در نویسندگی و تألیف.
۳- سابقه در تدریس.
۴- آشنایی درتعلیم وتربیت.
۵- برعلاوه زبان های رسمی مروج درکشوربا یک زبان دیگر (خارجی) نیز آشنا باشد.
٦- باتکنولوژی وفناوری مجهز باشد؛ درغیرآن مجاری امور وفعالیت ها نارسا وبی کیفیت بوده وبه نتیجه متوقعه (ویژن برنامه) نمی رسد. جهت معلومات مزید علاقه مندان ونویسندگان، مرورگذرایی پیرامون شاخص ها وملاک های طرح، ساختارومهندسی چارچوب نصاب تعلیمی، راهنمای مواد درسی (مفردات) موادآموزشی وبه ویژه کتاب درسی می نماییم:

۱- **نیاز سنجی:** از طریق نیازسنجی موضوعات مهم راکشف می کنیم.( دردنیا چه خبراست؟ آخرین اطلاعات روز چیست؟) واین که: جایگاه این رشته برنامه ها درچه موقعیتی‌اند «نوسازی محتوا» - رشته های علمی ازهدف بیرون شوند وسیله شوند و... ماهیت علم درجامعه وجهان چگونه است؟ به چه شیوه می توان تخصص را درخدمت رشد قرارداد؟ بررسی نیازهای واقعی کشور وپایداری...

۲- **ابزار نیاز سنجی:** چک لست، مصاحبه، مشاهده، پرسشنامه و...

۲- رویکرد

واژه رویکرد ترکیبی از روی + کرد بوده و به مفهوم راه،روش،نظر، دیدگاه، نظم منطقی ونحوه ی ارائه یک طرح وموضوع علمی است.

**تعریف اصطلاحی رویکرد:** پیش فرض هایی اساسی درباره ی این که ماهیت انسان یا یک (موضوع علمی )چیست؟ وچگونه می توان آن راتوصیف وارایه کرد وباچه روش هایی

می‌توان فرآیند های روانی ویا یک (موضوع علمی) را توصیف و تبیین کرد و در نظر گرفت. درهر برنامه درسی مجموعه‌ای از بنیادهای نظری و دیدگاه های علمی برای نحوه ی تهیه، تولید، توزیع و ارائه مفاهیم آن وجود دارد که در اصطلاح به آن رویکرد گفته می‌شود. می توان رویکرد را قاعده عمل برای تنظیم منطقی محتوا فرض کرد.

**رویکردها**

انتقالی -------------- فرایندی ----------- تعاملی ---------- اکتشافی

۳- اهداف

**هدف چیست؟** هدف در لغت تیر و نشانه را گویند و در اصطلاح: رسیدن به نتیجه‌ی مطلوب یک کار را، هدف گفته می شود.

**محتوا وگزینش هدف ها**: انتخاب مقاصد و هدف های کلی تربیتی یک فعالیت کاملاً ذهنی است که ازیافته های عینی مایه نگرفته، بلکه ازفرضیات فلسفی وجهت های ارزشی نشئت می گیرد.

۴- منابع هدف

ماهیت دانش -------------جامعه-------------- ----- فراگیر

**۵- سطوح اهداف**

۱- اهداف آرمانی ۲ - اهداف کل نظام تعلیمی وتربیتی کشور۳- اهداف برنامه آموزشی «نصاب تعلیمی» ۴- اهداف مفردات درسی ۵- اهداف دوره تعلیمی٦ – اهداف اساسی ۷- اهداف ماده درسی ۸ – اهداف کتاب درسی۹ -اهداف بخش ها «فصل ها» ۱۰– اهداف یک واحد درسی

٦- محتوا نویسی

۷ - سازماندهی محتوا

مفهوم سازمان ------ انواع سازماندهی محتوا ------ اهمیت جایگاه سازماندهی ------- اصول سازماندهی محتوا و سطوح روش‌های سازماندهی

**واژۀ سازمان:** مجموعه عناصری که برای اهداف مشترک بایک دیگر رابطۀ متقابل برقرار کرده اند، سازمان گفته می شود. مثلا: (سازمان طبیعت) سازمان کل عالم هستی (ملکوت با ملک ) درارتباط است. سازمان محتوا عبارت از: مفاهیم ،مهارت ها ونگرش هاست.

سازمان دهی: (مجموعه فعالیت های منظم برنامه ریزان است جهت ایجاد وحدت وارتباط بین اجزاء وعناصرمحتوا، که طورموجزبه آن اشاره می شود:

۸- میزان انطباق محتوا با (١٦) اصل ا ساسی سطوح سازمان دهی

**میزان تناسب**

محتوا ------- و---------- ارتباط عمودی

محتوا ---------------- و---------------- هدف

محتوا ------------ و--------------- ارتباط افقی

محتوا ---------- و--------- رویکرد برنامه

محتوا -------- و----- ارتباط آن با زندگی شاگردان

محتوا -------- و------ توانمندی ذهن مخاطب

محتوا -------------- و------------------ زمان

محتوا --------------- و------------ ارزش یابی

محتوا -------- و --------- اعتباربخشی تکوینی

محتوا --- و----- روش های یادگیری ویاددهی
محتوا ------- و------- پرسش ها / فعالیت ها
محتوا ------------- و------------- نظام نوشتاری
محتوا --------- --- و------------------- توازن
محتوا --------------- و-------------- وحدت
محتوا --------------- و----------- سودمندی
محتوا ------------- و---------------- اشاعت

۹- اعتباربخشی ازمیزان مطلوبیت محتوا (کنترول کیفیت) ازمنظرنظرواجراء«ارزش یابی تکوینی»

۱۰ - اشاعت ونظارت ازبرنامه درسی

۱۱- کیفیت چیست؟

بعد کیفیت یکی ازابعاد مهم تلقی می شود که بامحتوای تعلیم وتربیت وچگونگی فرایند انجام آن سر وکار داشته ومسائلی چون فلسفه آموزشی،آرمان ها،مقصد ها،هدف ها،استراتیژی ها وراهکار های آموزشی را احتوا دارد.«ادوارد سایز» یک تن ازدانشمندان تعلیم وتربیت به این نظر است: کیفیت به عنوان مفهوم مطلق (مجرد) درماهیت - با خوبی ،زیبایی، حقیقت ودرستی مشابه است؛ ایده آلی است که نمی توان مخالفی برای آن یافت.

براساس استاندارد های جهانی: کیفیت به عنوان (تناسب داشتن با هدف وایمنی) تعریف شده است.

۱۲-استانداردچیست؟

استاندارد (معیارها، شاخص ها، ملاک‌ها) عبارت است از: «هرآن چه که بتوان باآن در موردیک محصول /محیط/ عملکرد و... قضاوت کرد؛ یا آن محصول رابا آن سنجید. آن چیزمی تواند یک نسبت/ یک فاصله /یک مقدار/یک زمان / یک درصد/ یک عدد/ یک وزن وغیره باشد.مثال نسبت: مانند محصولات شیر استاندارد شده ویا تناسب / میزان (محتوا با روش). ویا استانداردهای (فاصله: مقدار: زمان: درصد: عدد: وزن: مساحت:) وغیره. (معیارها، شاخص‌ها، ملاک ها)

۱۳-استاندارد های کتاب درسی:

۱- استاندارد های محتوا
۲-استاندارد های ظاهری/ فزیکی
۳- استاندارد های هنری
۴- استاندارد های نوشتن/ ویراستاری/ اديتوری.

(نظام نوشتاری) انواع استاندارد ها:

۱- کمی (ستاندارد های محدوده ای)
۲ - **کیفی**: معیارها/ وابسته به دیدگاه ها وشرایط به زندگی افراد جامعه است. مثال استانداردهای کمی:

۱ - استاندارد های سن قانونی شمولیت به مکتب. ۲- ا ستاندارد های ایام حاضری دوره ابتدایی وثانوی مثلاً۷۵٪ درسال تعلیمی.
۳- استاندارد های لایحه شمولیت درامتحانات باتوجه به فیصدی حاضری شاگردان. ۴- استاندارد های ملاک های کامیابی توسط نمرات ازمعیار «۴۰-۱۶» پاینت. ۵- استاندارد های سازماندهی محتوا مطابق اهداف مفردات. استاندارد های کیفی:

۱- مطابقت فصول و درس ها با مفردات.
۲-جمع بندی ومرورآموخته های واحد یادگیری.

۳-داشتن پرسش وپاسخ وتمرین ها.
۴- درنظر گرفتن اهداف دوره درمفردات.
۵- توجه به ارزشیابی مستمر.
٦- توجه به سطح ذهنی شاگرد «سویه».
۷- وجود انواع تمرین ها وفعالیت‌ها.
۸- تناسب حجم کتاب درسی بازمان تدریس.
۹- ارتباط درس بازندگی شاگرد.
۱۰- ایجاد انگیزه در شاگرد.
۱۱- توجه به مسایل ازساده به مشکل.
۱۲- صحت علمی مطلب.
۱۳- توجه به تفاوت های فردی شاگردان.
۱۴- ساختار یک واحد درسی

دراین زمینه ساختار مؤلفه های یک واحد درسی مرحله به مرحله درقسمت میانی کتاب درسی تنظیم گردیده و ارائه می شود؛ بایدافزود که: کتاب درسی دارای سه بخش است:

۱- بخش مقدماتی ۲- بخش میانی ۳- بخش پایانی. در بخش مقدماتی سخنی با شاگرد فهرست عناوین (موضوعات) ومفاهیم اساسی برای شاگرد گفته می شود.

کاربرد مطلب در زندگی، روش مطالعه کتاب، معرفی ساختاری کتاب واهداف کتاب.

**فهرست مفردات:** هربخش کتاب چند فصل دارد(بخش ها-فصل ها- درس ها).

**قسمت میانی یاواحد یادگیری:**(قسمت مقدمه،متن یادگیری، قسمت پایانی).

درقسمت پایانی کتاب پیوست ها، ضمایم، مراجع، منابع، مآخذ، تشریح واژه‌ها و لغتنامه و... می آید. دراین قسمت به همین قدراکتفا می کنیم برای معلومات مفصل، علاقه‌مندان منابع راجستجو نمایند. اینک نمونه ای ازساختمان یک درس قرارآتی ارائه می گردد: انجیری مرحله به مرحله ۲۰ قدمی اجزاء وعناصر ساختار یک واحد درسی

**الگو پردازی واستخراج:** ازاهداف، ساحات اصلی وفرعی آموزشی، عناوین - مفکوره های بزرگ ومحتویات مفردات

**مرحله یکم: (بخش مقدماتی)**

۱ - نیازسنجی
۲- شناس نامه درس
۳-عنوان درس
٤- انتخاب محتوا
۵- تعیین اهداف: دانشی، مهارتی، ذهنی وارزشی
٦- مقدمه درس
۷- متن اصلی (مفاهیم- مهارت ها- تعمیم‌ها- نظریه ها- فرضیه ها- فعالیت های شناختی وعملی- ارزش ها )
۸- سازمان دهی محتوا با توجه به اهداف وقابلیت های آموزشی و رعایت اختصار، توازن، وحدت وارتباط ،سازمان دهی عمودی«توالی»، سازمان دهی افقی «وسعت»، صحت علمی محتوا وسائر قواعد عمل درتألیف ونگارش
۹- همگام سازی درس با اطلاعات قبلی شاگرد « به ویژه وقتی که درس نخستین سال نوتعلیمی باشد»
۱۰- ارزیابی درس گذشته.

**مرحله دوم** :( بخش میانی ) ۱۱- ارتباط دادن درس جدید با درس گذشته ۱۲- طرح پرسش

های عمق دهنده[ تفکر برانگیز] مرتبط به درس نو «سوال های ورودی» ۱۳- فعالیت‌های اکتشافی «فردی وگروهی» آغازین درس جدید و کاربرد افزار کمکی برای تفهیم موضوع اصلی.

**مرحله سوم:** ( بخش میانی )۱۴ - سازماندهی وآماده سازی نمودارها- دیاگرام‌ها- گراف ها- تصاویر- نقشه ها- شکل ها - رسم ها ... ۱۵- نوشتن مسوده متن درس براساس مبانی روان شناختی بااستفاده از: رویکردهای کتاب نویسی طور مثال :۱ - ازساده به پیچیده -ازجزء به کل وعکس آن «تحلیلی وکلی» ۳- تلفیقی ۴-ترکیبی ۵- فعالیت محور...

**مرحله چهارم:** ( بخش میانی ) ١٦ - استفاده از روش ها، فنون، میتودها وراهبردهای درس نگاری مانند:۱- پرسش وپاسخ۲- بحث و گفت وشنود ۳- تفکراستقرایی۴- روش اکتشافی وحل مسئله ۵ - واحد کار(پروژه)٦- روش قیاسی ۷- فرضیه سازی۸- بدیعه پردازی۹- شیوه رفتاری کامل - ۱۰- یادگیری ازطریق همیاری ۱۱- مشاوره ۱۲- قصه وداستان...«این روش ها درتدریس وتألیف هردو کاربرد دارند» .

**مرحله پنجم:** ( بخش میانی ) ۱۷- توزیع فعالیت های متنوع یاد گیری از قبیل:۱- طرح کارآیی گروپ ۲- بحث گروهی۳- تدریس تیمی توسط اعضاء گروپ۴- تمثیل۵- نمایش ٦- ایفای نقش۷- برقراری ارتباط ۸- طبقه بندی کردن۹- تکمیل نمودن۱۰- درآموزش زبان ها- مانند :عربی،دری، پشتو،انگلیسی وزبان های محلی ،انواع روش های خواندن: دقیق خوانی- خواندن تجسمی- خواندن انتقادی – خواندن التذاذی... کاربرد دارند. ۱۱-علامت گذاری و... به هدف تمرین،تحکیم وذهن نشین شدن درس.

**مرحله ششم:** قسمت مؤخره ونتیجه گیری درس «بخش پایانی» به شیوه منطقی (انگیزش مجدد) تمام شود. ۱۸- جمع بندی« چکیده درس» مرورکلی بر نقاط مهم وارائه خلاصه درس

۱۹– ارزیابی پایانی درس ۲۰- تعیین تکلیف و سفارش کار خانه گی .

صورت محتوا نه، بلکه سِیرت محتوا مطلوب است .

بخش های فشرده و کلی یک درس: ۱- شناسنامه درس /عنوان درس ۲- مقدمه ۳- متن اصلی ۴- مؤخره/ نتیجه گیری ۵ - تصاویرمربوط به موضوع ٦- ارزشیابی سؤال ها وفعالیت ها ۷- ضمایم از دانستنی ها برای مطالعه بیشتر ۸- منابع مورد استفاده از تهیه درس

۱۵- **برنامه آموزشی:** برنامه ای می باشد که شامل تمامی فعالیت های مبتنی بر توسعه اهداف سازمان و آموزش ملی که برای کودکان، جوانان و بزرگ سالان ترتیب داده شده است می گردد .(بوبیت) اولین کسی بود که در۱۹۸٦م کتاب خودرا در باره برنامه درسی نوشت و در تعریف برنامه درسی می گوید: <<فعالیت هایی که کودکان و جوانان انجام دهند، انجام فعالیت هایی ضروری زندگی بزرگسالی در آن ها به وجود آید.>>

دراین محل چند تعریف فنی ازبرنامه درسی

ارائه می شود تادرجلوه ی آن، ویژگی ها،مواصفات وشرایط برنامه ریزی درسی وتولید موادآموزشی هویداگردد: (تانر وتانر) یک تن ازرهبران تعلیم وتربیت، برنامه درسی رادر(۹) شاخص ویژه چنین تعریف نموده است: ۱- یک نظام تکنولوژیکی بهره برداری ۲- روایت جمع آوری شده دانش سازمان یافته ۳- سبک های تفکر ۴- تجربه ی نژادی ۵- تجربه ی هدایت شده ٦- یک محیط یادگیری طرح ریزی شده ۷-محتوا و فرایند شناختیعاطفی ۸- یک طرح آموزشی ۹- نتایج وپیامد های آموزش.

لوئیس/ ومیل درمورد برنامه درسی می گوید: (برنامه مطالعاتی نتایج مطلوب یادگیری، فرصت های مطلوب اشتغال،فرصت‌های یادگیری فراهم شده، اشتغال عملی فراگیر و تجربیات عملی فراگیر. ویا به عبارت دیگر (مجموعه ی ازمقاصد درباره ه فرصت های اشتغال افراد تحت تعلیم با افراد دیگر و اشیاء شامل همه‌ی اطلاعات، فرایندها، تکنیک‌ها وارزش ها درمحدوده ی زمانی ومکانی معین.

- عبارت است از طیف وسیع روش های تفکر در مورد تجارب بشری، آنچه دراین تفکرات مورد نظر است نتایج آن ها نیست بلکه روش ها و الگوهایی است که نتایج آن را به دست میدهد. "بلت"
- عبارت است از یک سلسله وقایع آموزشی طرح شده به قصد تحقق نتایج آموزشی برای یک یا چند شاگرد پیش بینی شده است. "آیزنر"
- در حقیقت نوعی نقشه یا چارت تجارب است که از طریق آن از شاگرد انتظار می رود تاطور کارآمد آن را بیاموزد و در موقعیت های واقعی زندگی آن را به کار گیرد. "اسکی بک"
- اگر قرار است شاگرد محتوای خاصی را در قلمرو دانش، مهارت و عواطف که معلمان از آنان انتظار دارند، فراگیرند. این محتوا باید به طور منطقی و معنی دار سازمان یابد و طرح معینی را دنبال نماید. "مایزر"
- در حقیقت یک راهنما برای آموزش و مجموعه سازمان یافته از نتایج یاد گیری مورد انتظار است. "جانسون"

**منابع و مصادر:**

- شمائل الأتقیاء ص:۲۳۸-۲۳۷
- فرآیند برنامه ریزی وتألیف کتب درسی ( نبی الله صادقیان) شهریور۱۳۸۲ خ .تهران- ایران
- انتخاب محتوا (استادحسن ملکی) تهران- ایران
- نظریه های یاد گیری " ترجمه غلام رضا خوی نژاد"
- برنامه ریزی برای تدریس و یادگیری بهتر، تالیف جی گالن سیلور، ویلیام ام. الکساندر، آرتور جی. لوئیس.
- تحقیقات ومطالعات نویسنده.

# د ژبو د ډلبندۍ لارې چارې

لیکوال: شفیع الله صمیم

لنډیز

د ژبو ډلبندي کول او وېشنه اوس مهال د تاریخي ژبپوهنې له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي چې د ځینو ځانګړو اصولو او ورته والو له مخې ژبې په خاصو کټګوریو وېشي چې پر اساس یې په ټولیزه توګه ژبې په اسانۍ سر د مطالعې او څېړنې جوګه ګرځي.

د ژبو د ډلبندۍ لپاره پوهانو له بېلابېلو روشونو څخه ګټه اخیستې چې ځینې مهم یې دلته درپېژنو

۱ـ د ژبو ذاتي یا جېنیتیکي وېشنه؛ په دې وېشنه کې ژبې د غږیز، وییز او ګرامري نږدېکت او خپلوۍ پر اساس څېړل کېږي او په ډلو وېشل کېږي.

۲ـ ډولیزه ډلبندي؛ په دې ډلبندۍ کې ژبې د صرفي او نحوي رغښت له مخې ډلبندي کېږي، چې د نړۍ ټولې ژبې په یو هجایي، پیوندي او تصریفي ژبو باندې وېشل شوې دي.

۳- جغرافیایي ډلبندي؛ په دې ډلبندۍ کې د نړۍ ژبې د جغرافیو پر اساس وېشل کېږي او هره ډله یې د یوې مشهورې جغرافې په نوم یادېږي.

۴ـ د کینتوم او سیتم د تیورۍ پر اساس د ژبو وېشنه؛ په دې ډلبندۍ کې د سل عدد اساس ګرځول شوی، معنا دا چې د کومو ژبو د دې عدد په پیل کې چې (س) یا (ن) راغلی وي، د سیتم په ډله کې راځي او که د همدغه عدد په پیل کې د (ک) یا (هـ) فونیم راغلی وي او وروسته (ن) هم ولري، د کینتوم په ډله کې راځي.

۵ـ د ژبو مورفولوژیکه وېشنه؛ په دې ډلبندۍ کې یوازې د ژبو ګرامري جوړښت په پام کې نیول کېږي او هغه ژبې چې ګرامري جوړښت یې یو او بلې ته ورته وي په یوه ډله کې درېږي.

٦ـ د متصرفه او غیر متصرفه اصل پر اساس هم د ژبو وېشنه تر سره شوې چې یوه ډله یې هغه ژبې په خپله لمن کې رانغاړي، کوم چې اوښتونکې وي او بله ډله یې بیا هغه ژبې را اخلي چې د تصریف قابلیت ونه لري.

**مهم وییونه:**

ژبه، ډلبندي، سیتم او کینتوم، ذاتي یا جېنیتیکي وېشنه، جغرافیایي ډلبندي، متصرفه

او غیرمتصرفه ژبې او مورفولوژيکي وېشنه.

**سریزه**

اوس مهال د ژبې تاریخي پرتله ییزو څېړنو زور نیولی دی او د پخوا په پرتله یې لمن هم څه ناڅه پراخه شوې، چې د ګڼو نورو موضوعاتو تر څنګ یې د ژبو په وېشنه او یا ډلبندۍ هم تاوده بحثونه روان دي.

د ژبو د ډلبندي شالید څوارلسمې زېږدیزې پېړۍ ته رسېږي او تر دې وخته د ژبپوهانو له خوا د بېلا بېلو تیوریو پر اساس د نړۍ ژبې په بېلا بېلو کټګوریو وېشل شوې دي.

د ژبو ډلبندي د ژبپوهنې هغه څانګې ته ویل کېږي چې ژبې د بېلا بېلو اصولو او مقرراتو له مخې په ډلو او کټګوریو وېشي. دا چې په نړۍ کې د ژبو ډلبندي څه وخت پیل شوې او ژبپوهانو د ژبو د ډلبندۍ او وېشنې لپاره له کومو لارو چارو څخه ګټه اخیستې، په دې مقاله کې ورباندې بحثونه شوي او تر څنګ یې یو بحث د ژبو د وېشنې یا ډلبندۍ ستونزو ته هم ځانګړی شوی چې په دې بحث کې هغه اصول چې ژبپوهانو یې پر اساس د نړۍ ژبې کټګوري کړې، تر انتقادي نظر لاندې نیول شوي او تر ډېره هڅه پکې شوې چې د دې اصولو نیمګړتیاوې بیان کړي.

**د ژبو د ډلبندۍ شالید**

د ژبو مطالعه له ډېر پخوا څخه پیل شوې چې پیل یې تر مېلاد هم اوښتې، پوهانو د تاریخ په بېلا بېلو دورو کې هڅه کړې؛ تر څو په ژبو هر اړخیز بحثونه او څېړنې وکړي.

د دې څېړنو په لړ کې د ژبپوهانو یوه برخه څېړنې د ژبې په پرتله ییز اړخ هم راڅرخي چې د دې پرتله ییزو څېړنو په لړ کې یوه مهمه موضوع د ژبو ډلبندي کول او د هغې په لارو چارو باندې بحثونه دي چې دلته یې په لنډه توګه تاریخي شالید ته تم کېږو.

د ژبو ډلبندي اوس مهال له مهمو ژبپوهنیزو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي چې رېښه یې څوارلسمې زېږدیزې پېړۍ ته رسېږي. په دې برخه کې دانتې لومړني ګامونه اخیستي دي. شیباتاني او باینن ویلي چې تر دانتې وروسته فرانسوي پادري او ګرامرپوه ګابرېیل جراد هم د ژبو ډلبندي کړې. تر ده وروسته د اتلسمې پېړۍ په پای کې د سر ویلیام جونز له وینا سره یو ځای د ژبو د ډلبندۍ څېړنې په منظمه بڼه پیل شوې او په نولسمه پېړۍ کې د شلېګل ورونو، ویلیم فون هومبلت او اګوست شلایخر پکې نه هېرېدونکي کارونه کړي. (۳: ۹۱)

همدا رنګه د ژبو د ډلبندۍ په برخه کې پروفیسور ج.ج. سلیجر په (۱۵۹۹م ) کال کې وتوانېد چې په ډېره ښه او هر اړخیزه توګه د اندو اروپایي ژبو ډلبندي ترسره کړي. (۴: ۹۰)

په هر صورت، د ژبو ډلبندي کول اوس د تاریخي ترتلیزې ژبپوهنې له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي او د نړۍ په بېلا بېلو علمي او ژبپوهنیزو مرکزونو کې ورباندې بحثونه او څېړنې جریان لري.

**د ژبو ډلبندي څه ته ویل کېږي؟**

د ژبو ډلبندي د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې ژبې د ځینو ژبنیو توکونو د ورته والي له مخې په بېلا بېلو ډلو وېشي. (۳: ۹۴)

د ژبو ډلبندي کول د تاریخي پرتلیزې ژبپوهنې مهمه موضوع جوړوي. دا چې ژبې یوه له بلې سره په بېلا بېلو (غږیزو، وییزو او ګرامري) برخو کې ځینې ورته والی او شباهتونه سره لري؛ نو ژبپوهان دې ته اړ شوي؛ تر څو د دې ورته والیو علمي پایلې وړاندې کړي او په پایله کې د ژبو د خپلوۍ اړیکې کشف او هم دا څرګنده کړي چې یادې ژبې په کومو ژبکورنیو کې شاملې دي.

د ژبو د ډلبندیو اهمیت او ارزښت په دې کې دی چې د نړۍ بېلابېلې او ډېرۍ ژبې په منظمه توګه په ډلو وېشي او هم د دې ډلو بېلا بېلې ځانګړنې، خصوصیات، ورته والی، توپیرونه او نور هغه اړخونه روښانه کوي چې پر اساس یې کولی شو چې ژبې په آسانۍ سره تر مطالعې او څېړنې لاندې ونیسو، د دې تر څنګ د ژبو ډلبندي د ژبو د ژبکورنۍ او په ژبکورنۍ کې د ژبو د موقعیت او نورو اړخونو اړوند هم ښایي ښه مواد په لاس راکړي.

د ژبو د ډلبندیو په لارو چارو کې په بېلابېلو ډلبندیو بحثونه شوي چې ځینې ډلبندۍ یې په داسې معیارونو هم ولاړې دي چې د ژبو زده کوونکو او څېړونکو ته دا ور په ګوته کوي چې کومه ژبه په اسانۍ سره زده کولی او څېړلی شي او د کومې په زده کړه کې ستونزې شتون لري. معمولاً د هغو ژبو زده کړه یو څه ستونزمنه وي چې د زده کوونکي او څېړونکي له خپلې ژبې او یا هم له هغې ژبې سره چې د ده زده وي، په غږیز، لغوي او ګرامري جوړښت کې توپیر ولري، همدارنګه هغه ژبه په اسانۍ سره زده او څېړل کېږي چې د زده کوونکي یا څېړونکي د زده ژبې سره یې غږیز، وییز او ګرامري جوړښتونه ورته والی او نږدې والی ولري.

دا چې ژبپوهانو د ژبو د ډلبندۍ لپاره له کومو لارو چارو او اصولو څخه ګټه اخیستې، لاندې به یې بیان کړو.

## د ژبو د ډلبندیو لارې چارې

په نړۍ کې اوس مهال (۷۱۵۱) ژبې موجودې دي. (۳: ۹۱) چې ګڼې یې یو له بل سره ورته والی او یا هم اړیکې لري؛ ځینې یې په خپلو منځونو کې تاریخي اړیکې سره لري؛ ځینې په ګرامري، یا غږیز او یا هم په وییزه برخه کې له یو بل سره نږدېوالی یا هم ورته والی لري؛ نو په دې اساس ژبپوهانو هم د ژبو تر منځ د اړیکو او توپیرونو په پام کې نیولو سره د ژبو د ډلبندۍ لپاره له بېلا بېلو معیارونو څخه ګټه اخیستې چې دلته یې په منظم ډول تر بحث لاندې نیسو؛ خو د ژبو د ډلبندۍ اړوند د یوه ټکي یادول اړین دي او هغه دا چې کله چې ژبې ډلبندي کوو او یا یوه ژبه له ژبو سره د ډلبندۍ په قالب کې اچوو؛ نو اړینه ده چې د هغې ژبو/ ژبې زړه او اوسنۍ ژبنۍ پانګه او ډېټا په کافي اندازه راغونده شي، تر څو یې له نورو ژبو سره ورته والی، توپیرونه،

اړيکې او نور اړخونه د کره اسنادو پر اساس څرګند شي.

د ژبو د ډلبندۍ لپاره ژبپوهانو له بېلا بېلو لارو چارو او اصولو څخه ګټه اخيستې، چا ژبې د تاريخي خپلوۍ پر اساس ډلبندي کړې، چا له جوړښتي اړخه په ډلو وېشلې، چا د اوازونو له مخې کټګوري کړې، چا بيا د ژبو د ګرامري ورته والي او توپير پر اساس ډلبندي کړې او چا بيا دا ټول اړخونه له پامه غورځولي او ژبې يې د جغرافيايي اړخ څخه په ډلو وېشلې چې دلته به په ترتيب سره په ځينو بحث وکړو.

## ۱ـ د ژبو ذاتي يا جېنېټيکي ډلبندي

د ژبو په ذاتي ډلبنديو کې هغه ژبې راځي چې له يوې مور څخه زېږېدلې وي، که يوه ژبه د بلې له اوړون څخه زېږېدلې وي، لور ژبه يې بولي. د ژبو په ذاتي ډلبندۍ کې د ژبو تر منځ غرېزې، صرفي او وييزې اړيکې موجودې وي؛ يعنې په دې ډول ډلبندۍ کې اساس غرېز، لغوي او وييز نژدې والی او ورته والی جوړ کړی دی. خو د پورتني نږدېکت سره په ځينې موارود کې داسې هم پېښېږي چې کله ناخپلوانې ژبې يوې او بلې ته دومره نږدې اوسېدلې وي چې مورفيمونه، وييې او حتی نحوي رغښتونه يې يوې له بلې په پور اخيستي وي؛ لکه پښتو او ازبيکي (۳: ۹۴، ۹۵،۹۷) نو په دې ډول ورته والي کې ژبپوه نشي کولی چې دا ډول غرېزې، لغوي او وييزې پور اخيستنې دې د ذاتي ډلبندۍ لپاره اساس وګرځوي؛ بلکې په دې ډول نږدېکتونو او مشابهتونو کې ښايي د دې ژبو د جغرافيايي نږدېکت او فرهنګي اړيکو پر اساس يو بل ډول وېشنه چې جغرافيايي ژبنۍ ډلبندي ورته وايي، تر سره کړي.

د ژبو ذاتي ډلبندي د هغو لومړنيو ژبنيو موادو پر بنسټ تر سره کېږي چې معتبر او تاريخي لرغونتوب ولري. (۳: ۱۰۳) همدارنګه د جېنېټيکې ډلبندۍ لپاره له تاريخي او مقايسوي مېتود څخه کار اخيستل کېږي. (۴: ۹۰)

## ۲ـ ډوليزه ډلبندي

ځينو ژبپوهانو د نړۍ ژبې د هغوی د صرفي او نحوي رغښت له مخې ډلبندي کړې دي چې د دې طريقې له مخې د ژبو ډلبندۍ ته (ډوليزه) يا هم (رغښتي) ډلبندي وايي. په دې ډلبندۍ کې ژبې د ګډو ځانګړنو او يا هم د ګرامري ورته والي له مخې په يوه ډله کې ځای پر ځای کېږي او د ژبو تاريخ يا هم جغرافيايي موقعيت ته پکې پاملرنه نه کېږي. دا ډلبندي په نولسمه پېړۍ کې ډېره کارول کېده او د لومړي ځل لپار ويليام شلګل ترسره کړې او ورپسې يې ورور اګوست شليګل پکې اصلاحات راوستل. .

د ډوليزې ډلبندۍ پر بنسټ د نړۍ ژبې په دريو ډلو (يوهجايي يا جلا، پيوندي او تصريفي) باندې وېشل کېږي چې د نړۍ هېڅ ژبه له دې دريو ډوله ډلبنديو څخه پاتې نه ده.

**لومړی: یو څپه ییزې یا جلا ژبې**

په دې ډول ژبو کې هره کلمه له یوې څپې رغېدلې چې څپې یکې تل په واحده بڼه راځي، یعنې اجزاوې یې بدلون نه کوي؛ په بله وینا، نه تصریفېدونکې دي، په دې ډله ژبو کې چینایي، مندرین، کانتوني او نورې ژبې شاملې دي.

**دویم: پیوندي ژبې**

په پیوندي ژبو کې ویې له دوو یا څو مورفیمونو ( یوې رېښې او یو یا څو تاړو) څخه جوړ شوي وي.

**درېیم: تصریفي ژبې**

په تصرفي ژبو کې هم ویی څو مرکبې بڼې لري؛ خو د پیوندي ژبو پر خلاف، په دې ژبو کې ترکیبي تاړي غالباً هم مهاله څو گرامري مقولې بیانوي؛ لکه پښتو چې یوه تصریفي ژبه ده، یکې تاړي څو گرامري مقولې (جنس، شمېر، فعل او نور) څرگندوي. (۳: ۱۱۵، ۱۱۶، ۱۱۹)

**۳ـ جغرافیایي ډلبندي**

د محمود مرهون په حواله په نړۍ کې د ژبو ډلبندي په لومړي سر کې له تاریخي او جغرافیایي اړخ څخه پیل شوې.

په جغرافیایي ډلبندۍ کې د نړۍ ژبې د جغرافیو پر اساس ډلبندي کېږي چې هره مشهوره ډله یې د یوې مشهورې جغرافیې په نوم یادېږي. (۱: ۲۳۱، ۲۳۲)

دا ډلبندي ډېرى وخت دوې یا څو ناخپلوانې ژبې چې په یوه جغرافیه کې موجودې وي هم په یوه ډله کې دروي. حال دا چې شاید دا دوې یا څو ژبې په بېلا بېلو ژبکورنیو پورې اړه ولري؛ لکه په افغانستان کې د ازبیکي او پښتو ژبې شتون چې په جغرافیایي لحاظ په یوه جغرافیه کې شتون لري؛ خو د ژبکورنۍ په لحاظ په بېلو ژبکورنیو پورې اړه لري.

کله کله د دې امکان هم وي چې د اوږد مهاله نږدې جغرافیایي موقعیت، یو له بل سره د اوږد مهاله فرهنگي او ټولنیزو اړیکو او راشه درشې په وجه دا ژبې له یوې او بلې څخه په غریز، لغوي او حتی رغښتي لحاظ اغېزمنې شي چې په دې مواردو کې شایي ځینې څېړونکي دا فکر هم وکړي چې دا ژبې د خپلوۍ په لحاظ هم یوې او بلې ته نږدې وي، نو دا ډول ورته والی (چې له پوریز، جغرافیوي او ټولنیزو اړیکو څخه زېږېدلی) په هېڅ ډول د ژبو په ذاتي خپلوۍ دلالت نه کوي؛ بلکې یوازې د جغرافیایي ډلبندۍ پر اساس یې د یوې جغرافیې ژبې گڼلی او په یوه جغرافیایي ژبنۍ ډله کې درولی شو.

**۴ـ د کینتوم او سیتم د تیورۍ پر اساس د ژبو ډلبندي**

د کینتوم او سیتم ډلبندي لومړی ایلگر دانته تر سره کړه. (۴: ۹۴) په دې تیورۍ کې د (سل) عدد په بیلا بیلو ژبو کې تر غور لاندې نیول شوی. سل عدد ته په لاتیني کې کینتوم او په سنسکرېټ ژبه کې سیتم وایي. پورتنی معیار ټولې آریایي ژبې په دوو برخو وېشلې، هغه ډله چې د سل عدد

د ويي په پيل کې يې (س) يا (ن) وي د سيتم ډله يې بولي او که د سل عدد په پيل کې يې (ک) يا (هـ) وي او وروسته (ن) هم ولري، د کينتوم ډله بلل کېږي؛ عموماً غربي(لوېديځې) اريايي ژبې د کينتوم له ډلې او شرقي(ختيځې) اريايي ژبې د سيتم په ډله کې راځي، خو پورتنۍ تيورۍ هم د منلو وړ نه ده، ځکه زيات شمېر ژبې شته چې په دغو ډلبنديو کې په يوه گروپ کې راځي؛ مگر په هېڅ صورت سره موږ نه شو کولی چې هغه ژبې په يوه ډله کې مطالعه کړو.(۱: ۲۱۶، ۲۱۷)

**۵ـ د آډلنگ (addling)د تيورۍ پر اساس د ژبو ډلبندي**

اډلنگ په (۱۷۳۲م کال کې زيږېدلی دی) نوموړي ژبې له هنري اړخه څېړلې دي او د فرهنگ له مخې يې په لوړو او کښته ژبو وېشلې دي، لوړې ژبې هغو ژبو ته وايي، چې لمنې يې ډېرې پراخې او ارتې وي او د هر راز تعابير چې انسان ورته اړ وي، لري يې او د الفاظو هجاوې يې هم ډېرې دي، د متمدن عالم ژبې له دې ډلې څخه دي چې دا هم پر دوه ډوله وېشل کېږي، متصرفه او غير متصرفه ژبې.

کښته ژبې بيا هغه ژبې دي چې لغات يې د بيان له امله کښته او الفاظ يې خورا لنډ او يوه هجايي دي، د اسم، فعل او حرف توپير يې نه کېږي، له يوه لفظه به يې د نورو مستقلو الفاظو په نښلولو سره فعل او حرف جوړېږي؛ د جنوبي افريقا د زنگيانو، د امريکا د هنديانو او د شمال او شرقي ايشيا او د چين ژبې له دغو ډلو څخه دي. (۱: ۲۱۵)

۶ـ د متصرفه او غير متصرفه اصل پر اساس د ژبو ډلبندي

ژبې د گرداني او نه گردانېدونکو ځانگړنو پر اساس هم ډلبندي شوې دي.چې په گردانېدونکو ژبو کې يې ټولې هغه ژبې شاملې دي چې د اشتقاق او گردان قابليت لري او غير متصرفه ژبې بيا هغه ژبې دي چې د اوښتون او تصريف قابليت ونه لري؛ لکه توراني ژبې. (۴: ۹۷،۹۹)

**۷ـ د ژبو مورفولوژيکه وېشنه يا ډلبندي**

په دې ډلبندۍ کې يوازې د ژبو گرامري جوړښت په پام کې نيول کېږي. د مورفولوژيکي ډلبندۍ په وسيله د ژبو مورفولوژيکي ټيپونه ټاکل کېږي، د مورفولوژيک ټيپ ژبې په مشخصو ژبکورنيو پورې نه محدودېږي؛ بلکې داسې هم کېدای شي چې له دوو بېلا بېلو ژبکورنيو څخه دې وي او هم کېدای شي چې په ټيپيک لحاظ يو شان ژبې په يوه ژبکورنۍ پورې اړه ولري؛ لکه پښتو او اورمړي. (۴: ۹۲)

**د ژبو په ډلبندۍ کې شته ستونزې**

د ژبو د ډلبندۍ اړوند د دې خبرې يادول اړين دي چې لاتر اوسه پورې د ژبو د ډلبندۍ په باب داسې يوه ټولمنلې ډلبندي رامنځته شوې نه ده چې د نړۍ د ټولو ژبپوهانو يووالي او نظري وحدت دې پرې راغلی وي، له بلې خوا د ژبو د ډلبندۍ په برخه کې د ډېرو تيوريو

موجودیت هغه ستونزه ده، چې څېړونکي د څېړنې پر وخت له سرگردانۍ او ستونزو سره لاس او گرېوان کوي، نو غوره به دا وي چې د ژبو د ډلبندۍ په پورتنیو اصولو او لارو چارو باندې یوه انتقادي کتنه وکړو، تر څو د ژبو د ډلبندۍ په برخه کې له څېړونکو او لوستونکو سره څه ناڅه مرسته وکړو.

۱ـ په نړۍ کې ډېرې ژبې د ورته والي له مخې ډلبندي شوې،چې ډېرې ښې پایلې هم لري؛ خو که ژبې د ورته والي له مخې ډلبندي کوو؛ نو پکار ده چې لاندې ستونزې هم په نظر کې ونیسو:

الف: ځینې ناخپلوانې ژبې هم تصادفي ورته والی سره لري، خو دا ورته والی او مشابهت د هېڅ ډول اصولو پیروي نه کوي، نو په دې بنسټ نه شو کولی چې د اصولو مطابق یې تحلیل او ډلبندي کړو؛ د بېلگې په ډول: د انگلیسي په ځینو گړدودونو لکه کاکني کې د همزې شتون، په داسې حال کې چې همزه په عربي ژبه کې هم شته؛ نو لکه څنگه چې دا دوې ژبې په بېلو ژبکورنیو پورې اړه لري او نه یې د تاریخ په اوږدو کې کومه ځانگړې اړیکه پاللې نو په دې دواړو ژبو کې د همزې شتون یو تصادف دی. (۳: ۹۲) نه دا چې موږ دا دواړه ژبې په یوه ډله کې ودرو.

ب: کله، کله د ورته والي عامل جغرافیایي نږدېکت هم شوی وي، یعنې کوم وخت چې په یوه جغرافیه کې د څو ژبو ویونکي مېشت وي؛ نو طبعاً ځینې ژبنې توکي یو بل ته په پور ورکوي چې په پایله کې داسې موارد ایجادېږي چې یوه له بلې سره ورته والی پیدا کړي، لکه په افغانستان کې مېشت ازبیکان چې د پښتنو په څېر دواخانې ته درملتون وایي چې له پښتو ژبې یې په پور اخیستی، په داسې حال کې چې له افغاستانه بهر مېشتي ازبیک ژبي ورته (dorixona ) وایي، همدا راز (کوټ) په دواړو ژبو کې د ځای په معنا دی؛ نو گورو چې د جغرافیایي نږدېوالي له کبله په افغانستان کې د ننه پښتو او ازبیکي په ځینو برخو کې ورته والی سره لري، په داسې حال کې چې ازبیکي په التایي او پښتو په هندو اروپایي ژبکورنۍ پورې اړوندېږي. (۳: ۹۳)

۲ـ که د جغرافیایي وېش پر اساس ژبې ډلبندي کړو، نو دلته ستونزه دا ده چې ځینې داسې ژبې هم په یوه جغرافیه کې شتون لري چې په هېڅ صورت کې یوه له بلې سره نږدېوالی نه لري او په هېڅ صورت هم په یوه ډله کې د مطالعې او څېړنې وړتیا نه لري. (۱: ۲۱۴)

۳ـ که د کینتوم او سیتم د تیورۍ پر اساس ژبې ډلبندي کړو؛ نو زیات شمېر ژبې شته چې د دغې تیورۍ پر اساس دې په یوه ډله کې راشي؛ مگر په بل هېڅ صورت موږ نشو کولی چې دغه ژبې په یوه ډله کې مطالعه کړو. (۱: ۲۱۷)

۴ـ همدارنگه که د گرامري جوړښت د ورته والي پر اساس او یا هم په گرامري جوړښت کې د وییونو د ترتیب پر اساس ژبې ډلبندي کوو؛

نو ښايي د ډېرو داسې ژبو ګرامري جوړښتونه هم سره ورته وي چې په بېلابېلو ژبکورنيو پورې اړه ولري.

نو غوره به دا وي چې د ژبو د ډلبندۍ پر وخت پورتنيو ټکو ته پاملرنه وکړو او له بله پلوه هڅه وکړو؛ تر څو د داسې تيورۍ په لټه کې شو چې که ټولمنلې نه وي، نسبي منښت، خو ولري.

**پایله**

له دې مقالې څخه نتيجه دا راوځي چې په نړۍ کې پوهانو هڅه کړې؛ تر څو د ژبو وېشنې لپاره له بېلابېلو لارو چارو څخه کار واخلي؛ خو په دې لارو چارو کې لا تر اوسه پورې په دې نه دي توانېدلي چې داسې يوه ټولمنلې قاعده او اصل رامنځ ته کړي چې د هر ژبپوه له خوا منل شوې وي او پر اساس يې ژبې په ډلو ووېشي. له بلې خوا بيا هم ژبپوهانو خپلې هڅې جاري ساتلې چې دا هم د ژبو د ډلبندۍ لپاره نسبتا ښې او مثبتې تمامېدې شي. پوهان کولی شي چې په دې موضوع کې څېړنې وکړي چې په پايله کې يې ښايي که ټولمنلی د ډلبندۍ روش نه وي يوه نسبي لاره، خو را ايستلی شي چې د نړۍ ژبې تر دې موجوده ډلبنديو لا ښې ډلبندي کړي.

**وړانديزونه**

۱ـ د ژبو د ډلبندۍ اړوند په پښتو ژبه کې کره او دقيق معلومات ډېر نشته، که وي هم ډېر کم دي؛ نو بايد زموږ مشران ژبپوهان او د نظر خاوندان بايد په دې برخه کې کار وکړي، تر څو پښتو ژبه هم په دې برخه کې پښتنو څېړونکو او زده کوونکو ته هاخوا د نورو ژبو د څېړونکو لپاره د مرستندويه موادو يوه منبع وګرځي.

۲ـ د ژبو د ډلبندۍ اصول دا راښيي چې کومې ژبې يوې او بلې سره په غريز، ګرامري او نحوي جوړښتونو کې ورته والی او نږدېکت لري او کومې ژبې يې نه لري، نو کومې ژبې چې په بېلا بېلو جوړښتونو کې يوې او بلې ته ورته او نږدې جوړښتونه لري، هغه معمولاً په اسانۍ سره زده کېږي، نو پر دې اساس د دې وړانديز کوم چې د ژبو د ډلبندۍ اصول دې عام شي، تر څو د نورو ژبو د زده کړو او څېړنې پر وخت له زده کوونکو او څېړونکو سره مرسته وکړي.

ماخذونه

۱ـ مرهون، محمود. (۱۳۹۹لمريز). تاريخي ژبپوهنه. (دويم چاپ). کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

۲ـ ځپانـد، عبدالجبار. (۱۴۰۲) د تاريخي ژبپوهنې اصول. (د پښتوځانګې د لومړي ټولګي لکچرنوټ). (ناچاپ). کابل پوهنتون.

۳ـ ساپی، اربازخان. (۱۴۰۲لمريز). د تاريخي پرتليزې ژبپوهنې تيوري. کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

۴ـ غوربندی، ميراجان. (۱۳۹۹لمريز). تاريخي او مقايسوي ژبپوهنه. (دويم چاپ). کابل نويسا خپرندويه ټولنه.

# د مجذوب په شاعرۍ کې رومانتیسیزم

جاوید آفتاب

**دوهمه برخه**

استاد زلمي هېوادمل په خپله مقاله کې د مجذوب د دوو نورو آثارو «د نور مظهرونه او دو آتشه» یادونه هم کړې او وایي چې په «دو آتشه» کې د قصه¬یي نظمونو منظومې پښتو ترجمې راغلې او همدارنګه مجذوب په لومړي ځل د «مروتوکسرونو» د متن سمون او تحشیه په ډېر زیار ترسره کړل او پر ۱۹۵۹م. دا مجموعه چاپ شوه او د پښتو ادبي څېړونکي لومړی پلا د کسرونو له نامه خبر شول.

مجذوب په پښتو معاصر ادب کې یو منفرد او د ځانګړي سبک لرونکی رومانسټ شاعر دی، اکثر لیکوال هغه د روماني شاعر په نوم یادوي، ځکه چې د هغه شاعري د رومانیت په خوږو را ټوله ده او د ده په شاعرۍ کې د سحر غوندې اغېز دی. که تاسې د مجذوب دا نظمونه ولولئ: «مس پروین، پورنیما، زېړ حسن، کوه مري، زما زړه انیا وه، د برګ بنین ښتن او شیخ بدین»، په دې نظمونو کې له روایاتو نه د بغاوت جذبه ده، په واقعاتو کې د تخیل رنګیني او ابهام دی، له پېریو راهیسې راغلي قیوداتو نه آزاد سوچ، نوې نکته نګاه او فلسفیانه تجزیه ده؛ د لهجې پُر اسراریت دی او په تېره د شاعر د رسا ذهن جدیت او د هغه د ژور شخصیت انفرادي چاپ دی.(۸)

مجذوب رومانوي اثر له انګرېزي شاعرۍ نه اخیستی دی، بلکې په شعوري ډول یې دا هڅه کړې ده چې د شلمې پېړۍ

پښتو شاعري د نولسمې پېړۍ د انګرېزي شاعرۍ له سويې سره برابره کړي او په انګرېزي شاعرۍ کې هم هغه له شيلي، کيټس، بائرن او ورډزورتهـ نه زيات متأثره دی.(۲)

د مجذوب روماني شاعري:

د مجذوب په روماني شاعرۍ باندې خبرو نه مخکې د روماني شعر لنډ تعريف کوم:

روماني شعر هغه شعر ته ويل کېږي چې د کلاسيکيت له ښکلا سره سره په رومانيزو زيوراتو، لکه فکري آزادي، د خيال ندرت، بغاوت، انفراديت، منظرکشي او موسيقيت سمبال وي.(۱)

د مجذوب په نظمونو کې د «مس پروين» نظم کې د هغه تخليقي ځواک او روماني فکر اظهار ډېر ښکلی دی. مس پروين يوه نرسه ده چې ښکلا، کړه وړه، تقدس او شفا بخشه اغيز يې د مجذوب اروا وړې ده او هغه يې دې نظم ليکلو ته اړ کړی:

د مريمې پاک ناموس د عيسی ناوه
ايښېدونکې د تقديس له ډېره تاوه
هغه سترګې چې د ميو دوه پيالې وې
اننګې چې به رواني ترې شغلې وې
تورو زلفو کې يې ربن براقي وه
که ولاړ حجر اسود سره حاجي وه (۹)
تر پايه ...

د دې نظم تر پايه لوستلو سره به د شاعر تنده، خيالي هيلې او بې¬کنټروله تخيلات در معلوم شي، چې شاعر د دې نرسې څنګه متکرانه انځورګري کړې او د خپل کاري چاپېريال هغه حقايق يې بيان کړي چې د نننی انسان فطرت او په زړه کې خښې خبرې دي، خو اظهار يې هر څوک نه شي کولای.

منظرکشي په روماني شعر کې د طبيعت د ټولو موجوداتو په ځانګړې ډول د غرونو رغونو، صحراګانو، ځنګلونو، د سيندونو شرشرو، څپو او سيليو او له اړوندو طبيعي منظرو څخه ډول ډول ذهني حسي او عيني تصويرونه جوړول د روماني شاعرۍ يو عمده خصوصيت ګڼل کېږي. (۱)

په «زلفې» نظم کې د مجذوب د منظرکشۍ قوت پوره په زور کې دی. د خپلې منظرکشۍ په ترڅ کې يې که يو

خـوا لـه مشـاهدې نـه کار اخیسـتی دی، نـو بـل خـوا یـې د مطالعـې ځرکونـه هـم په¬کـې جـوت کـړي دي. مجـذوب د زلفـو مختلـف مشـابهتونه وړانـدې کـړي دي، کلـه ورتـه د گمبیلـي پـه دلـن کـې کیلـې کیلـې شـگې د زلفـو پـه رنـگ لیـدل شـوې دي، کلـه ورتـه شـاعر پـه خـوا کـې شـنه لوخـړه د خپلـي محبوبـې زلفـې یادوي، کله ورتـه پـه سـنبل او ریحـان کـې بدلـې شي، کلـه ورتـه د افریقـې گـڼ ځنگلونـه د چـا د زلفـو سـیورې ښـکاري او کله ورتـه د ختکو لـه غرونـو غونـډې غونـډې وریـځ چـې د لکـۍ پـه لـوري پـه شـتاب را روانـې وي، د زلفـو عکـس وړانـدې کـوي. د نظـم پـه بیـن السـطور کـې اصـل مقصـد او پیغـام د فطـرت ښایسـت او ښـکلا پیـش کـول دي، چـې زمونـږ پـام یـې ورتـه د محبوبـې د زلفـو پـه تناظـر کـې را اوړلـی دی.(۲)

چي د شپې زلفې وزانگې
تررمې شي
د غـره خـوا کـې لـه شـاعر بـه شـنه لوخـړه
شي را پورتــه
تور لوگی شي
ما ته ستا گرگوټي زلفې را په زړه شي
بې قراره مې بدن شي
هر ویښته را باندې لک
لکه میږې شي... (۲)

د مجـذوب پـه نظمونـو کـې «زیـږ حسـن، زیـږ تصویـر» ډېـر لـوړ نظـم دی، پـه دې نظـم کـې د شـاعر لـوړ تخیلـي ځـواک او لفظـي انځورگـري کتلـی شـئ، دلتـه تصویرونـه فزیکـي وجـود نـه لـري، بلکـې لـه لفظونـو یـې تصویرونـه جـوړ کـړي دي. پـه دې نظـم کـې پـر منظرکشـۍ سربېـره د رومانیـت نـوري ځانگړنـې شـته. د مجـذوب پـه ځینـو شـعرونو کـې کلـه کلـه پـه دې پوهېـدل هـم سـخت وي، چـې د دې شـننه اوس څنگـه وکـړو. د دې نظم متنـي سـپړنه نعمـت اللـه صدیقـي ډېـره ښـه کـړې ده. پـه دې نظـم کـې د الفاظـو دومـره رنگینـي پرتـه ده، چـې یواځـې پـه همـدې یـو نظـم لیکنـې کېـدای شي. پیـل یـې داسـې شـوی دی:

دا تصویر دې څله پنځولی ده
رنگ دې دومره زیږ ولې ورکړی ده
ظلم مصوره درنه شوی ده
رنگ خو د گلابو په گلشن کې و

رنګ په فلک خور د شفقونو شته
رنګ خو د آفتاب د الوانونو شته
یو کربنه دي بله کرشولي وی
څریکه دي د لمره شوکولي وی
فن سره دې بخل ولي کړی ده
رنګ دي دومره زېړ ولې ورکړی ده
ظلم مصوره درنه شوی ده...(۹)

«نقشي» د مجذوب بل نظم دی. په دې نظم کې هغه د خپل ماضي منظرکشي کړې ده، د خپلې مینې او عشق انځورګري یې په ډېر ښکلي روماني انداز انځور کړې ده، زړه راښکونکې مصوري یې کړې، حسن او جمال یې اوس هم د هوس او ضمیر دروازې ټکوي، دغه تېر یاد دی یو ډول د مازوخېزم حالت کې را ایسار کړی دی او د ډېر عجیب کیفیت احساس بیانوي:

نوې سپوږمۍ لکه اوړی د مستې شپې په غرې
خومره مزه کا، خومره خوند کا، خومره ښکلې ښکاري
د پښتنې جینۍ په شان پاس آسمان زهرا
په خپلې زنې شپې د خال په ځای وهلې ښکاري
په نمر خاته کې وربخ رنګی رنګی بیدلې ښکاري
د شپې له سره لوپټه نرۍ ښوییدلې ښکاري
لکه ګناه چا د ژوندي ضمیر خښنتن په ضمیر
نقشي مې مخ ته د هغو تېرو وختونو ګرځي
هغه وختونه چې ګوډ دي محبت کې د چا
هغه ساتونه چې مې تېر دي په صحبت کې د چا...(۹)

ماضي پرستي د رومانویت حصه ده. کله کله رومانوي شاعران له ماضي نه هغه کردارونه او واقعات را اخلي، کوم چې د خپل وخت د مروجو عقیدو او قاعدو په خلاف د مزاحمت علامتونه ګڼل کېږي او په داسې رنګ یې وړاندې کوي چې د شاعر د خپلې زمانې رسمونو، رواجونو، روایتونو، عقیدو، توهماتو او قاعدو په وړاندې کلک ودرېږي او په ولس کښې جوش او مستی د را اوچتولو او مزاحمت ته د تیارولو سوب ورګرځي.

د مجذوب په نظمونو کښې ماضي پرستي یا تاریخي شعور ښخي ډېر جوت دی، هغه د وړاندې تګ په دوران کښې قدم قدم په شا کتلي دي او د خپل ماضي او خپل تاریخ نه یې کومک اخیستی دی. (شیخ بدین غره ته خطاب، د مروتو اپالو ته خطاب، د رمې شپونکیه څه شوې، پښتو ته، د آزادۍ ښاپېرۍ ته او نور) دا قسمه نظمونه مونږ ته په لاس راځي.(۲)

په دې نظمونو کې «د رمې شپونکیه څه شوې؟» خان عبدالغفار خان ته هغه مهال ویل شوی، کله چې هغه زندان کې و. د دې نظم له عنوانه ښکاره معلومېږي چې شاعر د پښتنو هغه ستر رهبر او د سر سړي ته غږ کوي چې په هغه خپل ټول ټبر او ولس راټول و. هغه په رښتیني معنا یو داسې مشر او پښتون و، چې د پښتون ولس ډېر ناخوښ او بې‌ځایه روایتي مسایل یې نفي کړي وو، پښتون ته یې د نړۍ نوي دور د ژوند اصولو درس ورکاوه، هغه یې د کاروبار، اقتصاد، تعلیم، نړۍ سره سیالۍ او په هغو مسایلو باندې یې پوهاوه چې د هغه وخت پښتون ترې یا ناخبر و، یا یې ځان ته شرم باله. شاعر شپونکي (رهبر) پسې غږ کوي چې ته څه شوې؟ له رمې(پیروپانو) دې بیا لاره غلطه ده، بیا تار په تار شوه، د رڼا لار ترې ورکه ده، په تیارو یې سر دی، ته چېرته د غفلت په خوب ویده یې، ولې مې غږ نه اورې.

د دې نظم پیل په دې بیتونو شوی دی:

نمر خو لاړو مازیګر شو لوګه درګه وران ګودر شو

د ړنــــا پانــه زيړيــړي ورځ مـرګـونــي
معـلـو ميـــــړي
پـه مـخ شـپه خـوف و خطـر دی د شرمخـو
شــور و شر دی
زمــا دوه ســترګي څلور دي په کتو کتو اوبـه
شو ي
ولـې تـه را ښکاره نشوې د رمې شپونکيه څه
شوې؟(۹)

همدارنګـه پـه «پښتو تـه» نظـم کـې پـه تېر تاريخ کـې د پښـتنو غفلت او آواره¬ګـی تـه اشـاره کـوي، د خپلـې ژبـې پـه اړه حسـرت کـوي، چـې پيـړی پيـړی د پښـتنو د ډېرو سترو پاچاهانـو پـه دورو او واکمنيو کـې، تـه بيـا هـم هماغسـې خـواره پرتـه يـې. پښـتو يواځـې ژبـه نـه ده، بلکـې پښـتو د يـو سـتر قـوم هويـت، کلتـور، فکـر، ميراثـه او د نـړی پـه تاريـخ کـې د يـو پيژنـدل شـوي سـتر ملـت جـوت نـوم او د آسـيا زړه دی، چـې ټولـه نـړی ورتـه پـه ځانګـړي ارزښـت قايلـه ده. زه د دې نظـم څـو بيتونـه دلتـه راوړم:

زما پښتو زما شيريني پښتو
غم مې دې وچې کړلي ويني پښتو
تا سره خوا کې بادشاهان تېر دي
آهم له تا نه غافلان تېر دي
مغلو هر څه دي لوټلي د تا
کالي يې واړه دي ايستلي د تا...(۹)

پـه مينـه کـې عاشـق پـه يـو عجيبـه کيفيت کـې وي. د دې مينـې کيفيت او د عاشـقانه رمـز اظهـار شـاعر پـه لانـدې شعر کـې پـه ډېـر ښـکلي انـداز کـړی دی:

په نه ليدو يې تر ليدو ښه يمه
مينه کې داسې مرحلې راغلې
ستا له حيانا کو سترګو وګرځم
خپله ست کوي خپله منکرې شي(۱۰)

د مينـې پـه جذبـه کـې خپـل محبـوب تـه پـه دومـره تقـدس قايـل شـوی چـې پـه خپـل شـاعرانه مهـارت او تخيـل هغـه لـه بـشر نـه ډېـر لـوړ بـولي. خپـل محبـوب تـه وايـي، ستا ځينـې خويونـه لـه نـورو بـدل دي، عـام انسـان نـه يـې، نـو ځکـه دې عـالي بـولم.

زه که دې خدای بولم توبه مې ده
ځينې قصې ستا د بنيادم نــه دي(۱۰)

بـل اړخ يـې دا هـم کېدای شي چې شاعر لـه يـو فرعـون ډولـه انسـان تـه مخاطـب شـوی، د هغـه تکبـر، جبـر او پـر انسـانانو ځـان لـوړ ګڼلـو دې اړ کـړی چـې دا اوصاف

د انسان نه دي، لوی او جبار ذات يوائې د کايناتو ستر خالق دی، نه انسان؛ نو ځکه شاعر توبه وباسي او ورته وايي چې ستا ځينې چارې د انسان نه دي.

مجذوب په خپله څلورمه ټولګه «دارالاهام» کې نوې ډول شاعري کړې ده، په دې ټولګه کې يې روماني تصوف ليدل کېږي. ځينو ليکوالو د ده تصوفي شاعری په اړه هم ليکل کړي او د ده په شعر کې د وحدت الوجود تصوف ويني او وايي چې تصوف يې هم روماني دی. چې «ما ته نه و پېژندلی، کارساز، ياران، باغ، ماشوم او...» يې ښه مثالونه ورکوي. دا شاعري چې لولې رښتيا هم انسان احساس کوي چې تصوفي شاعري هم ډېره ښکلې او له رومانيته ډکه ده. خو مجذوب خپله په يوه مرکه کې وايي چې: «زما په شعر کې رښتينی تصوف نشته، بلکې زباني يا د الفاظو تصوف په کې دی، زه صوفي شاعر نه يم.»(۱۱) دلته يې د نمونې په ډول يو څو شعرونه راوړم.

مجذوب په «معمه» نظم کې د انسان د راتګ په اړه پوښتنه کوي، په کوم لور روان دی، چېرته ځي، څه کوي...؟

ګل له کومه را ټوکېږي
کوم خوا لاړ شي او رژېږي
ورځې شپې ولې بدلېږي
د ګل تخم کې ګل چېرته دی څه چل دی
دا عقده لږه راته وا کړه
د دې غوټې چېرته ول دی ...(۱۰)

بل ځای وايي:

د هجر د وصال قصه ده ډېره مختصر
موجود و په هر ځای چې کوم مکان ته رسېدم

«»

دا د وجود دی چې رڼا پکې جوته شوه
ودې ښایي څوک دی دا رڼا ته پته نه
لګـي(۱۰)

لـه خپـل خالـق سره د تـل پاتـې مینـې
اظهـار پـه ډېـر عجیـب انـداز کـوي:
خـدای خبر دی چـې دا مینـه بـه پـه څـه
مـري
عزرائیـل بـه ومـري مینـه بـه ونـه مـري
(۱۰)

یا وايي:
فرق د ظاهر او باطن دغه وه
پټ چې له سترګو شه نږدو راغی (۱۰)

**پایله**

معـاصره نـړۍ ورځ تـر بلـې د نویـوالي او مـوډرن کېـدو خـوا تـه زور څـه چـې چټـک ګامونـه اخلـي او اخیستي یـې دي، پـه ټولو علومو، فنونو او هنرونو کې ډېـر پرمخیـون شـوی او لا هـم چټـک مـزل کـوي، خـو زموږ غونـدې درېیمـه درجه ملتونـه لـه دې کاروانـه پـه ټولـو برخـو کـې ډېـر وروسته پاتـې یـو او پـه هیڅ لحاظ لـه دوی سره د سیالۍ جوګـه نـه یـو. منظور دا دی کـه لـه دوی سره پـه ټولـو برخـو کـې پـه یـوه صف کـې نـه شـو درېدلـی، لـږ تـر لـږه پـه شعر او ادب کـې خـو پسـې ګامونـه اخیسـتلی شـو، یعنـي نـړۍوال ادبي غورځنګونـو پـه صنـف کـې بایـد د یـوه لایقـه او چمتـو شـاګرد پـه توګـه خـو لاس اوچت کـړو. لکـه څنګـه چې د پښتو رومانسـټ شـاعر عبدالرحیم مجذوب نـن د رومانتیسـېزم پـه غورځنـګ کـې لاس پورتـه کـړی دی. اوس د کلاسـیکیت دور تللـی دی، رومانتیسـېزم، کوبېـزم او نـورو نـوو حرکتونـو تـه ترجیـح ورکـول پـه¬کار دي.
رومانتیســېزم او نــور نــړۍوال غورځنګونــه، چـې لـه هـر ځـای یـې سرچینـه اخیسـتې وي، د تـل لپـاره هماغـه ځـای او اشـخاصو پـورې محـدود نـه پاتـې کېـږي، بلکـې د هـرې ټولنـې وګـړو چـې ښـه رنـګ او سینګار ورکـړ، نوښـت او تخلیـق یـې پـه کـې وکـړ، ښـه ریاضیـت او مـزل یـې پـه کـې وکـړ، بیـا یـې صاحـب همـدا خلـک بلـل کېـږي، بیـا د دې غورځنـګ پـه سرخېلانـو کـې د همـدې ټولنـې او وګـړو نومونـو یادېـږي. د خپلـې خـبرې د اثبـات لپـاره لـه موضـوع بهـر یـوه ښـه مثـال وړانـدې کـوم. د کرېکـټ نړۍوالـې لوبـې ایجادګـر انګلسـتان

دی، خو په نړیوال کچ دا لوبه اوس هندوستان خپله کړې ده او له نېکه¬مرغه افغانستان هم په ډېر لنډ وخت کې په دغه نړیوال ډګر ځان ثابت کړ.

د رومانتېسېزم ادبي غورځنګ د ایجاد مرکز هم انګلستان دی، خو نن د نړۍ د هېوادونو وګړو دغه غورځنګ ته نړیوال نوم ورکړی چې له نېکه¬مرغه پښتو ادب کې هم د مجذوب په نوم یو ستوری شته چې نن یې د خپل شعري وړتیا له کبله په دغه غورځنګ کې پښتو ته غړیتوب ورکړی دی.

مجذوب د پښتو معاصر ادب د رومانتېسېزم مکتب په سرلارو او هنرمندو شاعرانو کې یو مخکښ شاعر دی، د ده شعري کیفیت او سبک له نورو جلا رخ او رنګ لري. د ده په ځینو شعرونو کې مو د رومانتېسېزم په ځانګړنو خبرې وکړې. دا چې شاعري یې لکه د نورو شاعرانو په اوس وخت کې یا ډېره رسنیزه او بحث شوې نه ده او یا د لیکوالو او څېړونکو ور پام شوی نه دی؛ ښایي یو لامل یې دا وي چې د مجذوب د شاعرۍ په مختلفو اړخونه باندې هومره بحث نه دی شوی، چې باید شوي وای، خو بیا هم د لرې پښتونخوا ځینو محدودو لیکوالو پرې لیک او بحث کړی دی. د دې بل دلیل دا هم کېدای شي چې د ده په شعر کې سیمه¬ییزې کلمې او خپله مروتی لهجه ډېره کارولې او دا به لوستونکو او لیکوالو ته یو څه د ابهام لامل شوې وي. په ډېرو لهجوي کلماتو یې زما سر هم نه خلاصېده، خو ځینو شعرونو ته یې ښکلا ورکړې ده او د دې بله ګټه دا ده، چې د یوې سیمې او قبیلې هغه سوچه کلمې او توري په شعر کې ښه خوندي کېږي، چې له دې سره د ژبې لغوي پانګه هم زیاتېږي.

په هر صورت د مجذوب روماني فکر د ده په شعر کې داسې جوت دی لکه د شودو په سر پېروی. نور درنه د مجذوب په دې بیتونو سره اجازت اخلم، چې:

د زني خال دي د خلیل نخښه ده
چې ورسره چاه د زمزم وختو
زمانه قدر د چا څه پېژني
هر ځای یوسف په بها کم وختو(۱۰)

# اوس نو ایله په طالبۍ پوه شوم!

**لیکنه: مفتي وقایت الله وقار**

د عمر په دریېمه لسیزه کې نږدې نیمایي مزل ته لنډ شوم، اوس پوه شوم چې طالبي څنګه کېږي؟ څه پکې وشي او څه ونه شي؟ د زده کړې مرحله شوخه وي، له غفلتونو ډکه وي او انسان پکې په آسانۍ د خپل خېر او شر لوري ته متوجه نه وي، له هغه استاذ سره بې نه لګي چې سختي ورسره کوي، درس تړي غواړي او کورنۍ وظیفې پرې لیکي، هغه استاذ یې ښه خوښېږي چې ټوکې کوي، په رسمي ساعت کې د درس ډېر شوقي نه وي، ځان نه په عذابوي او په طالب/ شاګرد باندي هم زور نه راوړي... د امتحان صحنه کې بې بنداره وشي او د آزمویني په نتیجه کې بې ټولو ته پوره یا پوره ته نږدې نومرې ورکړې وي.

طالبي د دیني علومو په لاره کې او شاګردي د عصري علومو او محصلي د دواړو د ګډون په لاره کې داسې سخت مزل دی چې که څوک یې ورته ارزښت ته پام وکړي او ترخې شېبې یې له خوږو شېبو خوږې ونه ګڼي؛ نو کمال ترې لرې بوله.

هغوی چې نن د آسمان ستوري دي او په هر کتاب او هر درس کې ورسره د (رضي الله عنهم) او (رحمهم‌الله) جمله وایو، د خوب په بستر یا د مور په خېټه کې دې مقام ته رسېدلي نه دي. هغوی خوارۍ کړې، سختې یې زغملي دي او دغه حد ته یې ځانونه رسولي دي.

ما چې د سلفو صالحینو ژوند ولوست او بیا په خاصه توګه په هغه باب تېر را تېر شوم چې د علم په لاره کې زموږ مشرانو څومره کړاوونه ګاللي دي؛ نو دا اوسنی د زده کړې سیستم او د طالبۍ سهولتونه راته سخت ټیټ ښکاره شول، دلته دې حالاتو، ظروفو او په ټوله کې زماني او مکاني شرطونو دا پروسه دومره سسته کړه چې اوس به نو په هر څه کې د طالب/ شاګرد لحاظ کېږي، هغه ته باید تندی تریو نه شي، هغه باید په تونده لهجه مخاطب نه شي، هغه سره باید په ډېر احتیاط تعامل وشي او هغه باید په هر ګام کې وناز ول شي.

زموږ دغه معاصر سیستم څومره په نازونو ولاړ

دی! څه به ښه وه چې موږ ددې په خاطر چې په استاذ زور راوړو او ورته ووایو چې له شاګرد سره نرم اوسه، شاګردانو باندې لازمې کړو چې لږ تر لږه د سلفو صالحینو شاګردي ولولئ، د هغوی حالات وڅارئ او په هغه اړخ بې ډېر تمرکز وکړئ چې هغوی په نشت امکاناتو کې څنګه لوی سړي شول؟ لویو مقامونو ته ورسېدل او څنګه بې ویاړني وګټلې؟ داسې چې د ځان لپاره نه، بلکې د قام او امت لپاره د افتخار خلک شول او لاهم دي.

د طالبۍ او د زده کړې د ټول پړاو خوږوالی ډېر دی؛ خو ددې خوږو معلومات هغه چاته کېږي چې له دغه مزله وتلی وي، هغوی چې په دغه پړاو کې دي؛ په اسانۍ یې خواږه موندلی نه شي، ځکه دغه خواږه پرله پسې جد او جهد غواړي او زموږ نننې یاران بیا په دې کې پاتې راغلي دي.

زه نو د لیسې فارغ یم، مدرسه مې لله الحمد ټوله ولوسته، پوهنتون مې تعقیب کړ، اوس د اداري او تدریس په ګدۍ ناست یم، مګر منئ چې د طالبۍ له خوږو سره دغه اوسنی هیڅ پړاو نه شي سیال کېدی، هغه خوند او لذت ډېر بې ساری وو چې موږ به د کتاب په مطالعه کې مونده او پاڼه پاڼه به مو په ډېره تلوسه اړوله، هغه آرام چې د استاذ په وړاندې په زنګون کېښه ناسته او د استاذ د مرغلرو په اورېدو کې وو، په هیڅ کې نه شته.

اوس نو ایله په طالبۍ پوه شوم! اوس پوه شوم چې زده کړه څنګه تر لاسه کړم او په وړاندې یې ستونزو او خنډونو ته څه ډول ځواب ورکړم؟ خو کاش چې فرصت مې درلودی او کاش د ژوند مسئولیتونو راڅخه دغه لاره ورکه کړې نه وه، اوس که سل واري هم ووایم چې غواړم یو ځلي بیا د زده کړې مزل وکړم، یوه استاذ او لارښود ته کېنم او له نورو څخه واورم؛ نو څوک یې را سره نه مني، هغوی چې په معنوي لحاظ ورته زه څه ناڅه ښکارم، هم په دې نه قایل کېږي او هغوی چې زه ورته په مادي لحاظ د عاید یوه کمزورې سرچینه یم، هم راسره دا نه مني چې زه دې یو ځلي بیا زده کړې ته مخه کړم.

که زه یو ځلي بیا طالب/ زده کوونکی شوم؛ نو هیڅکله به استاذ ته ونه وایم چې درس بس دی، زه نور آرام کوم، زه ستړی یم، طبیعت مې خراب دی، بوختیاوې لرم او...

له استاذ سره به داسې چلند ته زړه ښه نه کړم چې د هغه د خفګان لامل ګرځي او هغه پرې دردېږي، همېشه به د استاذ خدمت د ځان لپاره ویاړ وګڼم او د استاذ لپاره د یوه با ادبه، با نزاکته او با احساسه شاګرد په توګه اوسم... زه پوهېږم چې دغه ارمان ته مې اوس رسېدل اسانه نه دي او ددغه خوب رښتیا کېدل د شته امکاناتو په نظر کې نیولو سره محال دي، ولې بیا هم ژمنه کوم چې زده کړه مې له زانګو ده او تر ګوره به یې پالم او له مهربان ربه د ګټورې زده کړې سوال کوم.